
کتاب مقدس


THE LIBRARY OF CONGRESS
1900



Bible. N.T. John. Pashto
— Injil sharif.

انجیل شریف

په معرفت دَ

مُقدّس یُوحنا

منظُوم پښتو

مع

تفسیر

ناظم م۔ع۔ تائب —— مفسّر ج کرسٹنسن

Published By The Danish Pathan Mission, Mardan, N.W.F.P.

۱۹۳۹	۱۰۰۰	اول ځل	۱۳۵۸

1939



خبردار

شئ. دا کتاب دَ خدائ پاک کلام دي
ځکه دا خبره یاده لري چه په ادب ساتل
ستاسو ذمیواري ده

بله خبره دا ده چه دَ دي کتاب نظم دَ متن په اصل
باند موقوف دي. نو که په ځني ځائ کښ سکته یا
سهوه وینئ هغه معاف کړئ ولې چه هلته به
دَ متن خاص خیال ساتلي شوي وي.

کوم الفاظ چه له متن نه زیات یا دَ ناظم خپل دي هغه دَ
فارسئ په رسم خط لیکلي شوي دي. او دَ متن په مطابق
د آیاتونو نمبرونه په انګریزئ هند سو کښ لیکلي دي.

دَ تفسیر په حق کښ دا عرض دي چه هغه دَ
مستند تفاسیر په مطابق تیار شه او په ممکن
کوشش دَ ثقیل او دَ مشکل الفاظو حل وشه او دَ
پښتنو دَ ضرورت په موافق ولیکلي شه

څو نو دا سوال دي چه خدائ دِ دَ دي کتاب په وسیلي
ډیرو پښتنو ورونو له هدایت وکړي. آمین

م ع تائب جے کرسِتنسَن

دیباجه

دا
غټ کتاب
په کافی کوشش او
خرڅ ددې دپاره تیار شوی
دی چه د خدای کارونه چه ئې په
عیسی مسیح کړي دي د پښتنو ورونو ته
صفا ښکاره شي او د دې کتاب په لوستو
په د هیرو عجیبه و کارونو بیان معلوم
شي لکه چه په شپږم یا نهم یا یولسم باب
کښ لیکلي دي. هم په هر مخ باندې د
عیسی مسیح حقیقي تعلیم راشي

نو د دې کتاب په پیش کولو کښ
مونږ ته ضروري ښکاري چه د الهام
په مضمون پوه شو ولیکو چه لوستونکي
ته معلومه شي چه عیسایان څنګه دا کتاب
مقدس منې او خدای په کوم طریق
د کتاب مقدس په وسیلې ایمان امید
او تسلي د انسان په زړه کښ پیدا کوي

اول دا سوال
د الهام په څه کښې کیږي؟ یعني څه مقصد
دي چه هغه ولې اول مقصد دا دي چه خدای
تعالی انسان ته ښایي چه هغه
ځینې لوی د انسان د پاره
د خپل خاص

قایم
ترتیب
د وسیلې څه څه کوي په
او دویم مقصد دا دي چه
خدای انسان ته ښایي چه هغه له انسان
ته د دې اصول په مطابق څه څه غواړي

چه مونږ بائبل شریف لټوو نو دا
معلومیږي چه د الهام لوي او غټ حقیقت
دا دي چه خدای د انسان د پاره څه کوي
او دا الهام په دوه قسمه دي اول دا
چه خدای ځای په ځای او وخت په وخت
زوراور او عجیبه کار کوي. مثلاً لکه د
حضرت نوح په زمانه کښ طوفان یا د موسی
علیه السلام په وخت کښې د بني اسرائیلو له
مصر نه ایستل. او له فرعون نه بچ کول.
دغه شان بائبل شریف د خدای له کارونو
نه ډک دي. او دا کارونه د انسان د پاره
یو قسم الهام دي. ولې چه خدای د دي
کارونو په وسیلې انسان ته خپل مقصد
ښایي. دویم دا چه خدای د چا خاص الخاص
انسان په خولې اشارت ورکوي چه
وړاندې به هغه یا دغه زوراور کار
وشي. مثلاً بي بي مریم ته
دا خبره معلومه شوه
چه بچوئي

د
انسان په هم
له نبثي ته پیدا شي
یادا چه خلیل الله ته معلومه
شوه چه د هغهٔ په نسل کښې په هغه
نعمت د دُنیا د پاره راغي.

نو په دی نشان سره خدای وخت
په وخت خپل لوی کار کوي او د وخت په
منځ کښې اشارت په طور د پیشینګوي
ورکوي د دي د پاره چه انسان بې زړه نه
شي مګر چه هم په داسي زمانه کښې ایمان
ولري چه هیڅ زوراور کار د خدای له
طرف نه ښکاره کیږي.

که انسان د بني اسرائیل تاریخ ته
خیال وکړي نو دا خرګنده خبره ده چه هم تر
دی وقت پورې د خدای وعده بني اسرائیلو
سره نه ده ماته شوې مګر خدای دا یو قوم
ساتلی دی. سره د دې چه د هغه زمانې له اقوامو
شاید بل نشته چه اوس په دُنیا کښې موجود
دي. خدای خپل ځان وفادار ظاهر وي.
په خاص طور د موسیٰ علیه السلام یعنې
له وقت نه د عیسیٰ مسیح تر زمانې پورې دا قوم
تقریباً دوه زره کاله. خدای
په مختلف حال کښې ساتلی وه
او وخت په وخت
د انبیاوو

په
وسیلي خدای
د راتلونکي مسیح په
حق کښې تازه امید په هغه
خلقو کښې ساتلو. باقي تر دې حده پورې
چه د بني اسرائیل علماو ته معلومه وه چه
هغه مسیح به په کوم ځای. کوم خاندان او کوم
کښې پیدا کیږي. خدای هم ورته نه ښودلي
وو چه د مسیح وړاندې به یو بل نبي
پیدا شي چه د مسیح لاري به تیاروي نو
دا ایمان. امید او تسلي هر وخت د ایماندارو
خلقو په زړونو کښې پراته وو.

بیا چه وقت پوره شه او خدای دوباره
د لوی کار په کولو کلام وکړ نو حضرت یحیی
په معجزانه طور پیدا شه. ولي چه پلار یې
زوړ شوی وه او مور یې هم شنډه. هم زړه
وه (لوقا ۱ باب) او شپږم میاشتې وروستو
عیسیٰ کلمة الله له پیغلې مریمې نه پیدا
شه. بیا خدای د عیسیٰ مسیح په وسیله هغه
دوالسه کارونه وکړل. یعنې د هغه په خوله یې
د انسان د پاره د تسلئ. د امید او د تل
ژوندون پوره تعلیم او نبوت ونبول. مګر
خدای هم د عیسیٰ مسیح له لاس دومره زوراور
کارونه ښکاره کړل چه د باباادم له وقت نه
تر دې وقت پورې نه دي شوي.
او کوم وخت
چه انسان

د
غلط خیال او د
نور زړه یې وجهي
عیسیٰ مسیح مصلوب کاوه ده
نو خدای انسان مړ نه کړه ځکه چپل
لوی جلالي کاري وکړه ... مسیح له
دد بېله وړیځ یا ژوندي ... او پېژنه
سوده کسانو ته زیاته هغه ویلي. پس
دي نه خدای هم دا کار وکړیچ عیسیٰ مسیح
یې ژوندي اسمان ته وخېژوه او یې
طور د پېشینګوي خدای د اخېږه به
ظاهره کیږي ده چې هم هغه کلیمة الله
هم هسې شان واپس راڅي چه د ژوندو
او د مړو عدالت وکړي.

غرض دا دي چه خدای د زورآور کار
او د نبوت په وسیله ښکاره کړي دي چه
هغه پخپله د انسان د پاره څه وکړل او چه څه
به کوي او څو یې د پاره دا الهام دي.
چه یې آدم لپه شان فکر وکړي نو د
هغه آخر سوال دا دي چه خدای به څه د پاره
او د ټول انسان د پاره څه وکړي؟ خدای غرق
دي او د ګناه په وجهي به انسان به
کیږي؟ یا خدای مهربان دي او انسان به
نجات ورکوي؟ یا څه خاص ترتیب یې
آدم ته پېښ نه دي چه تش ایمانداران به بښي

تر هغه
پوري تسلي
نه موږي تر څو چه د دي
سوال جوابي هغه موندلي نه دي
یعنی خدای به څما د پاره څه کوي؟

په سبب او په وسیلي د الهام موږ
تحفه د دي سوال جواب شته. خو داسي نه دي
چه د یو انسان د خولې بل انسان تسلي
موږي. مګر دا الهام په زورا ونو او
کلو ونو کښې او په نبوت کښې موږ ته رسیږي
که چېرې موږ په لفظو و الفاظو کښې له دي
الهام نه مطلب واخلو نو دا دي چه خدای
وفادار دی یعنی خالق هم څوک نکي
هغه چېل مخلوق غوځېدو ته نه پرېږدي
مثلاً څه وخت چه موسیٰ علیه السلام
د خدای په حکم بني اسرائیل له مصره بهر کړل او
هغوی په ځنګل کښې فلسطین ته روان شو نو د
بي ایماني ګناه پیدا شوه او د دي ګناه په وجهې
هغه ټول پښت چه له مصره وو هم په ځنګل
کښې مړه شو. مګر پس له دې نه خدای هم هغه
قوم هغه ملک ته ورسوه یعنی لکه چه یې
خلیل الله سره وعده کړې وه. خدای چېل
شان وفادار و بنوه
بني اسرائیل د ټولي
دنیا د پاره مثال
دي. هم

هغه
شان په خدائي
انسان ځائي ته رسوري-
آګر که ته یې کسان په کنبي د بې
ایماني په و جبهو ورک شي
ځکه پکار دي. چه په الهام کنبی هم هغه

دوبیمه خبره وي:- یعني چه خدائي له
انسان ته نه څه غواړي له شروع نه
په مختلف طور انسان ته ښودلي دي
چه بني آدم په هیڅ طرز خپل ځان بچکولي نه
شي-بابا آدم ته دا خبره راغله-خلیل الله ته
موسی علیه ته-بلکې جمیع انبیاؤ ته معلومه
شوي وه چه انسان هیڅ طاقت نه
لري چه خپل ځان بچ کړي او که څوک دا خیال لري
چه په نیکي یا عمل یا دیني کارونو به زړه ځان
بچ کړم هغه نه یواځې له ځان بیوه بېله لار
اختیار کوي چه په هیڅ شان ئي سرته رسولي
نه شي مګر هغه هم د خدائي نبوتونه-کارونه
او نبیان رد کوي-نو معلومیږي چه خدائي
له اول نه اول له انسان نه دا غواړي چه
هغه خپل ځان بې طاقته وپیژني

مثلاً بني اسرائیلو په مصر کښې څه طاقت او
څه امید لرل په هغوي غلامان وو-مګر چه
فرعون زورور بادشاه وه بې طاقته یو
پوره شو چه بې د موسی کرام د
هاله د هغوي په

نړه
ولګیده
دویم کار چه خدائي له
انسان نه غواړي دا دي
انسان پوره ښي یا ومني چه خدائي د چیلی
مرضی په مطابق ترتیب قایم کړي دي. او
دا د ایمان او د پابندي ترتیب دي. یعني اګر
چه بني آدم د خپل ځان د پاره هیڅ نه ښي کولي
په هغه یقین کول لازم دي چه خدائي په خپل
ترتیب هغه کار کوي چه انسان نه ښي کولي.
دلته په دي انجیل کښې په شپږم باب کښې
کلیمة الله هم دغه جواب خلقو له ورکوي

کوم کار چه خدائي له موږ نه غواړي هغه
نه تش د انبیاؤ په خوله موږ ته ښایې مګر
خاص د چیلو کارونو په وسیله موږ ته ئې
ښکاره کوي

خدائي تش د یو کس. د یو قوم یا د یو
پښت د پاره زورور کارونه نه کوي
بلکې هر یو زورور کار د ټول انسان د پاره
دي. په یو کلي کښې به کار د دنیا
تر حدودو پورې به خبره ورسېږي او پښت
تر پښت به هغه یا دېږي. او د دي د
چه یاداشت په ټول انسان کښې قایم ښي
د زورور کارونو او د نبوتونو بیان
لیکلي شوي دي- مثلاً څه
وخت چه حضرت
نوح علیه

ځل پیل کاله
د پاسه وکړله. مګر خلقو
منادي رانه ورنو خدايې هغه تول
ایمان عرق کړ. او دا د تول انسان د پاره
پښت اشاره ده چه خدايې هغه خلقو سره
پوه ایمان نه لري کوي ځکه د حضرت
چه د طوفان یا داښت په انسان کښ
نوح د غواړي. او دا قابیل په دي شان
قابیل چه د هغه بیان و لیکلي شي.
سره کیږي چه د هغه شان لیکلي شوي د
بائبل شریف دغه په وجهی تر اوسه پوري د
دي. او د هغه کارونه یادیږي چه د دنیا له
خدايې هغه شوي دي
شروع نه شوي دي

بائبل شریف کتاب مقدس

بائبل شریف عام تاریخ یا د ځه بل بنه
دي. یعني هغه د ځه دي مګر اخر د خدايې
کتاب په شان نه دي. مقدس دي په دعوه
دي. ځکه کتاب. اوله وجهه دا ده
کښې دوه وجهی دي. د خدايې په دي کښې
چه خاص الخاص کارونه د خدايې په
یادیږي. یعني هغه کارونه چه دي
ظاهر طور د دي د پاره شوي وي چه انسان
انسان په مطلب پوه شي او د خدايې
په پتو کارونو نه پوهیدي شي

دویمه
وجهه
دا ده چه کوم
کسان چه خدايې
د هغوی له لاسه دا ښیري
ولیکلي هغوی هم له خدايې نه خاص
هدایت یافته وو (یوحنا ۱۴ باب - ۳۰ ایت
وګوره) د دي د پاره چه هرڅه داسې ولیکلي شي چه
ربښتني مطلب تر نه وزي دلې چه د خدايې په ظاهر
کار هم هیڅوک نه پوهیږي که هدایت
یافته نه وي. ځکه څوبیز دا قایم اصول
دي چه لیکوکي ملهمان وو
کتاب چه په کښې د خدايې د خاص
بیان د خدايې د مقرر شوي کسانو په
وسیلې لیکلي دي هغه به خود کتاب مقدس
وي او هم به دیني کلام وي. او په هغه
کتاب کښ به موږ تسلي او امید بیا
موموُ. او د ایمان او د پابندي حکم به
هم حاصل شي

د دي پتو لو خبرو په مطابق انجیل
شریف موږ ته رسیدلي دي. خدايې
خاص د څلورو کسو له لاسه موږ ته څلور
وي جلا جلا بیانات بنولي دي او د انجیل
شریف څلور کتابونه دي چه څلور کسو
په نومونو یادیږي. یعني حضرت متي
مرقس. لوقا. یوحنا. او انجیل
شریف په هر قوم کښې
دنیا کښې په درسته

خول دي ......ووږيو
ښوي اوس لا زړو ښي چه هرځای
یعني اوس حاصلیږي ښې هغه کاروته پاتي قايدا
کښې حاصلېدي کښې په يادداشت کښې عيسىٰ مسيح کښې دُنيا
دَ نالقو په يادداشت په خدائي په د پاره چه ټوله
ښې چه خدائي دي - دَ دي د ښې او دَ تل
ښدي دي په وسيلي بچ
دَ هغهٔ په و موږ مومي -
ژ وند ون و چه کتاب مقدس

باقي دا خبره لا چه يعني خدائي دکتاب
دَ خدائي يو وسيله ده د انسان په ژړه کښې
مقدس په وسيلي او تابعدار ري پيدا کوي
ايمان - اُميد - تسلي او مقدس په لاوس کښې

٨

ښکله هر څوک چه کتاب مقدس په دُعا
اخلي هغه له بکار دي چه يې په دي خدائ ته
سره په لاوس کښې اخلي چه ايې کاروته او
ثنا صدا و وکړه چه زه ستا په نښه پاتي
په نبوتونو پوه شم چه ته په ژړه
کښې خپل پوره کار وکړي - اُمين



یوحنا رسول

دَ انجيل شريف دَ دي حصي
ليکونکي حضرت يوحنا وه او په هغه دولسو
کسو کښې يو وه چه عيسىٰ کليمة الله په طور
دَ خاصو مريدانو انتخاب کړي وو او چه پښتانه
هم ورته دَ مسيح حواريان وايي - حضرت يوحنا
دَ جليل په ضلع کښې په بيت صيدا کښې
او سيدهٔ - پلار ئې بيحهی ماره وه او خاندان
ئې کافي مالدار وه - دَ هغهٔ دَ پلار نوم
زبدي وه او مور ئې سلومي وه - هغه
لو يره ديندار ښځه وه او دَ مسيح دَ راتلو
منتظره وه لکه چه نور خلق دَ هغې دَ زماني
دَ مسيح دَ راتلو په انتظار کښې وو.

په کوم وخت چه حضرت يحيیٰ
په ځنګل کښې منادي کوله يوحنا او دَ هغهٔ
ورور يعقوب هم هلته لاړل او دَ حضرت
يحيیٰ دَ خولي نه ئې ورمبي ځل دَ عيسیٰ
مسيح په حق کښې خبرې واوريدلې - او چه
عيسیٰ ئې وليد نو ورپسې لاړل او څه
وخت ئې ور سره تير که

لاړل دي ته پس
عيسیٰ کليمة الله
پخپله دَ

کېږي. او هلته د عیسایانو او وړه جماعتونو منتشر شه.

په دې منځ کښې یو بل بادشاه د روم په تخت کښېناست او هغه عیسایان په غم اخته کړل. حضرت یوحنا هغه ښهر نه خارج شه او په یو وړکوټي جزیره کښې قید شه چې ورته پتمس ویلی کېږي.

بیا چې یو بل نوی بادشاه د روم راغی حضرت یوحنا ازاد شه مګر څه مدې پس هم هغه وفات شه. او هغه د مرګ په وقت کښې قریباً د سلو کالو وه.

خدای د هغه له لاسه ډېر لوی کارونه اخستي وه. حضرت یوحنا په دې مشهور دی چې د هغه له لاسه یوه حصه د انجیل شریف ولیکلی شوه. بیا کوم وخت چې هغه په پتمس جزیره کښې قید وه نو کتاب مکاشفات د هغه له لاسه ولیکلی شه. په کتاب مکاشفات کښې خدای د راتلونکي زمانې د واقعات حق کښې اشارهٔ راکړې. یعنې نبوت دی. په کوم وقت چې حقیقت ښکاره شوې وه نو د ایماندارانو د نصیحت او تسلي د پاره ئې هم دري خطونه لیکلي وو چې په بائبل شریف کښې دي.

کېږي د روم پاپ په ... او کاږي هغه پیدا شوه ... او ما ... هم ... کښې ... ناست ونه کړه ... د عیسی مسیح مرېدان هم ... مخالفت ونه کړه ... خاص طور د عیسی مسیح ... نه

حضرت یوحنا بیا چېرې د عیسی کلیسه وه. بلکې کوم وقت چې ورپسې موقعه ... حضرت یوحنا هم هغه مرېي ... ونیول شه په سولي مور او د یوځای نولسم ... هغه وقت لکه چې ... مور ... عیسی مسیح ... او وساده ... باب کښې حضرت یوحنا نه ...

بیا ترڅو یوځای بیت المقدس کښې حضرت یوحنا په جماعت کښې مشر وه. او د عیسایانو ... کښې حضرت پولس شهید شه او حضرت یوحنا بېل ځای بدل کړه یعنې د افیسیس ښهر ته لاړه چې هلته نوی مریدانات په ایمان قایم کښې

اول باب

۱ په ازل کښې
لکه خدای تعالی نه په خیال په هر ځای کښې ... سره د انسان په خیال ... تر هغې ... د هر قسم مخلوقات ... عملیت ... د عقل ... چه په ... لږ ... فرقي ... د پیدا ... چه ... د دنیا د پیدا کیدو نه بیغی ... انسان ... د انسان په خیال ... او هغه مثال ... د خدای ... بهر نه ... دی
داده . د رسیدو نه بېرته بیغی ... آدم ... عالم ... هیڅ ... د خدای ... په زمان ... بیغی ...

۲ کلام (لفظ لوګس) دی . او دا لفظ په یونانی ژبه کښې دوه قسمه استعمالیږی . د عقل په معنی او د کلام په معنی ... د پارې استعمالیږی . نو مطلب د پارې استعمالیږی . چه د کتاب او د کلام ... کلمة الله ... شریف ... د عیسیٰ مسیح په انجیل کښې ... هغه خاص وجه دا ده چه ... وحی ... نازل شوی ... زمانه کښې پیغمبرانو ... ښکاره ... په وسیله ... او هغه د خدای کلمة الله دی . د خدای ... کلام ... اول د انسان ... ذات ... نه بهر نه دی .

ښکاره چه د انسان ... په وخت ... اول ... خدای ... ذات ... وه ... خدای ... خالق ... هر ... د دنیا ... وسیله ... د خداوند ... پیدا

۳ د خدای د ... د خدای معرفت ... یعنی ... په وسیله ... ښکاره ... شو د ... کښې د خدای ... ټول عالم پیدا شول .

1 په ازل کښې وه کلام او دا کلام
خدای سره وه او خدای وه دا تمام
2 او هم دغه خدای سره وه په ازل
3 ټول اشیای په وسیله د ده پیدا شول

نجات ... سره وکړی . نو چه انسان ... کتاب مقدس ... هغه ... کړی ...
دوېم: چه عقل د انسان نا کامیاب دی . نو د ایمان ... اول : څو مره پوره ... دوه مره په ... د خدای ... وکړی ... په وسیلې ... په فیصله ... ښکاره
خیال ... سره نه کوی ... کوشش کوی ... څو مره ... هغه ... په خیال
... او د عمر قید لو ... زیاته ... شوه ... چه اول قدم ... غلط اخستی دی .

11

هر يو څيز چه شه پيدا تو نه يو بيا
نه شه بي دَ هغهٔ له وسيلي پيدا
4 په هغهٔ كښې وه ژوندون اعلی الحكم
او هغه ژوندون وه نور دَ بني آدم
5 په تيارهٔ كښې نور ځليږي عجايبه
وليكن تياره په هغه نهٔ شوه غالبه
6 يو سړي راغي دَ رب فرستادا
وه دَ هغه سړي نوم حضرت يحيیٰ
7 شاهدي دَ پاره راغي چه دَ نور
شاهدي وكړي - تول خلق په دستور
دَ هغهٔ په وسيلي راوړي ايمان
8 هغه خپله خو نور نهٔ وه په امكان

مکر راغي چه دَ نُور شاهدي وکړينه
9 دا رښتین نُور چه هر کس روښانه کوينه
وه هغه راتلونکي خاص تر دي دنيا
10 بلکِ وه هغه دنیا کښ هويدا
دنيا شوه په وسيلي دَ هغهٔ پيدا
خو دنيا هغه ونه پيژندهٔ بيا
11 هغه خپل ځاىٔ وته راغي په اصول
خو خپلوانو هغه نه کړلو قبول
12 مکر هر څوموره چه هغه قبول کړنه
نور هغوي ته يې دا حق ورو ښنه

چه دَخدايَ ځامن شي هغه ټول کسان
چه دَهغه په نامه څوک راوړي ايمان
13 نه له وينې. نه له شوقِ جسماني
نه له بلې ارادې څه انساني
بلکې شو پيدا له خدايَ په اصليت
14 کلام جُسه شه له فضل او حقيقت
نه معمور شو وبن. په مينځ کښ او سيدلو
موبن. دَهغه لويَ والي داسې وليدلو
لکه وي دَپلار دَيو ځوي لويې جلال
15 او يحيي يُ داشهادت وکړ في الحال
او په لوړ آواز يُ وُوِهسې شان
داهغه دې چه يُ ما کړې وه بيان

يعني هغه چه ورستي راغي له ما
شهٔ رونبي له ما چه وهٔ رونبئ پخوا
16 دَ هغه له زياتوالي مونږ بيامونده ل
يعني فضل بانډِ فضل تکمل
17 شرعهٔ راغله دَ موسیٰ په معرفت
دَ مسيح په وجهي فضل اوحقيقت
18 خدايَ هيڅ ته چري نه دي ښکاره شوي
خو هغه يواځي پيدا شوي ځويَ
چه دَ پلار په غيږ کښ دي اقبال بلند
هم هغه کړ مونږ وته ځرګند

۱۵

دَ يحيىٰ شاهدي داده په هوس
يهود يانو چه له بيت المقدس[1]
كاهنان او مرداران[2] په دي وينا
واستول چه ته يي څوک وائي يحيىٰ
20 يحيىٰ وكړ اقرار نه شه په انكار
بلكي وِ يې زه مسيح نه يم په اقرار
21 بيا پوښتنه وكړه دوي ته يي چ الياس
يحيىٰ وِ زه هغه نه يم بى قياس

۱ بيت المقدس يروشليم — اصلي نوم دَ بيت المقدس يروشليم دي او معنىٰ ئي داده: دَ سلامتي ښهر - په دي وجهي يهوديان هغه ته [illegible] ګڼلي چه په هغه کښې بيت الله وه. په ټولو کلو کښې دَ عام عبادت دَ پاره جماعتونه وو. مګر خاص عبادت لکه قرباني يا اختر کول په بيت الله کښې وو او دا سبب دي چه خلق به په مخصوصو موقعو کښې دَ عبادت دَ پاره اکثر بيت المقدس ته تلل -

۲ لاوي — دَ بني اسرائيلو نيکه يعقوب عليه السلام [illegible] او دَ هغه له دولسو ځامنو نه دولس خېلونه جوړ شو - دريم ځوي لاوي وه - او هم دَ هغه په خېل کښې دَ موسیٰ او دَ هغه ورور هارون [illegible] خدائي په خاص طور [illegible] خاندان وه دَ بيت الله دَ پاک کار او دَ قرباني کولو دَ پاره مقرر کړي وه. هغه کار صرف دَ هغه دَ خاندان دَ لاس منظور [illegible]

كاهنان — [illegible] او هغه خاندان وېلې كېدېږي [illegible] په مختلف [illegible] خدائي دي [illegible] نو [illegible] لاوي [illegible] خاندانات [illegible] چه دَ هارون دَ کورني - نو [illegible] مقرر [illegible] عام کار [illegible] خدمت [illegible] هغوي [illegible]

۳ الياس — [illegible] حضرت يحيىٰ [illegible] الياس [illegible] حضرت يحيىٰ [illegible] مسيح [illegible] حضرت [illegible] الياس [illegible]

بیا دوئ وِ ته یي هغه نبي څهٔ وایه
ده ویل نه یمه دا خیال وی بی ځایه
22 څکه هغوي ور ته وُوِ بیا یي څوک
څه جواب ور کړُو لیږو ونکو ته بی توک؟
ته څه وایي په بابت کښ دَ خپل ځان
23 یحیيٰ ور کړلو جواب په هسی شان
یو آواز یم چه ځنګل کښ نعري کړي
چه کړئ لاره دَ رب سمه سمه سستي
لکه چه دِي یشَعیاه نبي ویلی
24 فریسیانو داکسان وُو رالستولي
25 بیاهغوي تر دا سوال وکړ سمه سستي
نه مسیح یي. نه الیاس. نه هَغه نبي

۲۸ تیرهٔ صحرا دي. لیننه ځای بېتي عنیا سره (?) ... بعضو نسخو کښ ... د بپتسمه ... کښ هغه ... حضرت یحیی ... نو د بپتسمه ورکولو ... په مطلب هم ... او حضرت یحیی په جواب کښ صرف مسیح ته اشارت کوي.

۲۹ خداي کا وري

د یحیي دلته عیسیٰ ته کلمة الله نه وایي. نو هر یو یهودي په مطلب پوهیدي شه. په وړینبي زمانه کښ چه بني اسرائیل په مصر کښ میریان وو. او خداي اخو هغوی د فرعون له ظلم نه بچ کړل. نو په هغه شپه کښ خداي حکم ورکړ چه یو یو ورئ د هر کور کښ قربان شي. او د هغه وینه د دروازي د سر

١٨

او د دواړو په درشلو ... چه د مرګ ملک ... بني اسرائیلو ... خداي ... قربان ... حضرت یحیی ... الفاظ استعمالوي ... په زمانه کښ ... خلق ... پوهیږي

رانه وایه بپتسمه ورکوي ځله؟
26 په جواب کښ یحیي دا وینا وکړله
بپتسمه په اوبو باندِ ورکوم زهٔ
خو یو کس ستاسو ترمیان ولاړدي وایم زه
چه یُ نه پیژنیُ تاسو په هیڅ شان
27 چه له ما ورستو راځي هغه زلیشان
زهٔ لایق نه یَم هومره په یوه وار
چه تسمي یُ پرانزمه دَ پیزار
28 دا خبري دَ یردن له سِند نه پوري
بیت عنیا کښ وشوي چرته چه یو لوري
ورکوله بپتسمه حضرت یحیي
29 بله ورځ یُ په راتلو ولید عیسیٰ
ویُ ویل کوريُ کډ وري دَ سُبحان
چه ګناه دَ جهان اخلي په خپل ځان

30 دا هغه دي چه لي په حق ذکر مذکور شه
چه له ما وروستو راشي ور نبي ضرور شه
سبب دا دي چه له مانه وه اول
31 خو ما وته پیژندلو مکمل
چه ښکاره شي خاص په بني اسرائیل
بپتسمه د آب ور کومه په تعجیل
32 او یحیی ور کړه شاهدي په هسي شان
چه ما روح ولید چه راغي له آسمان
د کونتري په شان هغه را کوز شنهٔ
او د هغه کس د پاس ایسار شنهٔ
33 او ما نه پیژند - نو چا چه راستولم
د اوبو په بپتسمي لي مقرر کړلم
هغهٔ ما ته وِ چه ته وویني څوک
چه پر روح کوز شي ایسار شي په دي توک

٩

د مسیح پیژندل دا په عام جسماني خیال نا ممکنه وو ځکه خدای تعالی حضرت یحیی ته یوه نښه ښوولې وه چه مسیح دی. هغه یوه نښه چه عیسی کښد الله هم په دنیا وي طور جدید نښه پیژند. عیسی دا له شانه نه شي ویلی هم هغه د عیسی چه ذات پیژندنه کړو دی. نو چه خدای تعالی مسیح شوي ښیي وه نښه دا وه

روح القدس

١٦

به شکل ښکاره به ناته نازل ښیي. چه په هغه کښی د مقدس متی انجیل شریف باب کښی ۱۶-۱۷ دا حضرت یحیی یو آواز راغی دی په صور دي چه دا ځما محبوب ځوی دی چه زه تري خوشحاله یم.

انجیل دَ مقدس یوحنّا

لهٔ خدائي دَ بني اسرائیلو دَ انبیاؤ په خولي دا نبوت کړي وه چه زه به خپل روح په انسان بانزل کړم دَ یوایل نبي ۲ باب ۲۸-۲۹) او دَ روح القدس ذکر ډیر ځله دَ عیسیٰ مسیح په وسیلي کیږي. بلکي هم په دي انجیل شریف کښې دا معلومیږي چه هغه نبوت دَ عیسیٰ کلمة الله په وسیلي پوره شهٔ او هم روز روز پوره کیږي. دَ رسولانو په اعمال کښې دویم باب له اول ایت نه وګوره.

دَ مسیح او دَ نورو پیغمبرانو او انبیانو په منځ کښې په دي فرق دي. هغوي اقرار کوونکي شي. مګر تش دَ عیسیٰ کلمة الله دَ خاطره او دَ هغه په وسیلي دَ روح القدس بپتسمه

دَ قوت لباس موبي یا په نوره الفاظو کښې په هغه دا دَ روح القدس بپتسمه

۲ په انجیل شریف کښې دوه قسمه بپتسمه یاد کړي. دَ اوبو او دَ روح القدس. دَ اوبو بپتسمه یو قسم اقرار دي او دَ روح القدس بپتسمه طاقت موندل دي. دغه بپتسمه هم دَ عیسیٰ بپتسمه ده. چه دَ انسان هر څه په ایمان ځای دي. دَ قوم دَ ذات اقرار وه. او دَ عمل په وجهي ځلک امید

هم دي هغه کس چه په روح القدس[ے]
بپتسمه به ورکوي خاص په هوس[ے]
اوما ولیدهٔ هغه په هغه شان 34
شاهدي ورکوم چه ځوي[ے] دي دَ سبحان

۲۰

۲۱ حاصلیږي. دَ بني اسرائیلو په بت پرستان لوی امت ملکونو کښې خدائي ته دَ نبوت. چه

عیسیٰ. دَ ګناه نه پاک نکي. مسیح. دَ خدائي مسح شوي. ابن آدم. دَ انسان په ذات کښې شامل. ابن الله یا دَ خدائي ځوي. دَ خدائي په ذات شامل. یعني په لفظ ځوي کښې مطلب قرابت دي جسماني ځوي والي په عیسائي اجماع امت کښې کفر ګڼل کیږي په دي ټولو نومونو کښې بوهم نشته چه دَ عیسیٰ مسیح مریال نو له ځان جوړ کړي دي. هر یو نوم دَ دې په وسیلي راغلي دي. او چه انسان په دي نومونو ځه قدر پوهیږي نو خدائي دَ هر یو نوم په وسیلي دَ انسان په زړه کښې جدا جدا تسلي پیدا کوي.

35 بیا بله ورځ یحیٰی ولاړ وه ورسره
دَ هغه دوه مریدان وُو بنه کره
36 چه عیسیٰ تیریدهٔ ورته یُې وکتل
وِیُې دَ رب ګډ وري وګورئ کال
37 چه دي دواړو واوریدُ دغه بیان
په عیسیٰ پسي هغوي زرشو روان
38 عیسیٰ وکاته په شا نو رسمدستي
وئې لیدل چه دوي په ما پسي راځي
ورته یُې دُوِ ځنګه راغلئ څه خبر ته
دوي ویل تهٔ اي اُستاذ اوسي چرته
39 عیسیٰ دوي ته وویل راشئ په ځان
وګورئ۔ دوي ورغلل هغه زما ن
وئې لید ځائ۔ هغه ورځ پاتې ورغله شُو
وه قریب لسم ساعت چه ورسره شُو
40 په دي دوه وُکښ چه یُې خبري دَیحیٰی
واوریدلي او بیا لاړل ترعیسیٰ

41 یو اندریاس دَ شمعون پطرس ورور و نه
اول ئې شمعون سکه ورور و موند نه
ورته ئې وویل دي مسیح موندلي او س
42 چه معنیٰ ئې دا ده په اصل خرِسطس ئے
ئې ولېسته مسیح عیسیٰ له هغه پل
چه عیسیٰ ورو کتل وئې فرمایل
چه یې ته شمعون فرزند دَ یوحنا
خو کیفا به شې بللي پطرس ۲ یا
43 بله ورځ دَ ګلیل نیت وکړ عیسیٰ
او فلپس ئې بیا موند وئې وورته دا
44 ما پسې شه - دَ بیت صیدا فلپس وه
چه هم ښهر دَ اندریاس او دَ پطرس وه
45 او فلپس نتنایل و موند بیا
ورته ئې وویل دَ چا ذکر چه موسیٰ
په توریت کښې او نبیانو کړي و نه
نو هم هغه کس او س مونږ بیا موند نه

۴۱ اصلي عبراني نوم مسیح دي. او په یوناني کښي دَ هغه ترجمه خرِسطس دي او په انګریزي کښي ورته CHRIST ویلې کیږي. مطلب مسحه شوي دي. لکه چه دَ یشعیا نبي په صحیفه کښي ۵۳ باب کښي راغلي. خداي وائي چه خما خپل خادم دي چه ما جدا کړي او مقرر کړي دي. او خپل روح مې پر مسحه کړي دي. چه دَ هغه په وسیله به انسان نجات مومي.

۴۲ دَ عیسیٰ خاصیت هم په دي نوم ښکاري. ولي چه بې له عیسیٰ کلمة الله بل څوک په دنیا کښي تیر شوي نه دي چه مسیح یا مسحه شوي ویلي کیږي.

۴۲ دَ حضرت پطرس خپل خانداني نوم شمعون ده. مګر عیسیٰ مسیح پطرس نوم ایښي دي چه مطلب ئې ډبره یا کاڼړي دي او په عبراني ژبه کیفا ویلي کیږي. او دَ مسیح مطلب دا دي چه مضبوط والي

هغه دي دَیوسف ځوئ عیسیٰ ناصري
46 نهتن ایل ورته بیا وِوِ سرسري
څه ښه څیز له ناصرت ختلي شینه؟
فلپس وُوِ راشه گوره له یقینه
47 په راتلو چه نهتن ایل ولید عیسیٰ
دُ هغه په حق عیسیٰ وُویل دا
وگوري دي رښتین دي اسرائیلي
چه په کښې نشته په هیڅ قِسم تکي
48 نهتن ایل وِ پیژني ما له کوم خوا
په جواب کښې ورته وُویل عیسیٰ
چه فلپس تهٔ وبللې له هغې وړاندِ
لا ولاړ وې دَ انځیر دَبوټي لاندِ
49 ما تهٔ هلته ولیدلي ائ ممتا زه
نهتن ایل جواب کښې وُویل اُستاذه
تهٔ دَ خدایٔ ځوئ یې بادشاه دَاسرائیل
50 عیسیٰ وُوِ نهتن ایل ته په تعجیل

۲۳

په حضرت عیسیٰ مسیح ته
لفظ اېل څخه وایي نو
دَ خدای نجم دَ غلات
مسیح هم یو بل نجم
دَ بارې بنایي. یعنې هغه
چه دَ دانیل نبي په صحیفه
کښې داغې ابن ادم. هغه
ابن الله شکله ورته وایي چه
په خدایي ذات کښې دي
او دلته ابن ادم په دي
وجهي ورته وایي. چه دَ انسان
په ذات کښې دي.
دلته صاف ښکاره دي چه
په عیسیٰ کلمة الله کښې یو بل دا
راز دي. یعنې چه هغه په دواړو
ذاتونو کښې شامل دي. مګر بني ادم
اول اول دَ خدایي په ذات نه
پو هېږي. او و نه لېږي دَ چل ذات
په راز نه پو هېږي. نو شکله خود دَ
عیسیٰ مسیح دَ ذات په راز نه پو هېږي.
مګر چه خدای تعالیٰ په عقل او
بنو نو نو او لنبو

۲۳
کراماتو انسان راتلونکي نو
معجزې دي چه ... راز نشته نو
په انسان الاسم الدي په
عیسیٰ په یې وکړي

51 په دي وجهي چه م دا خبري وکړلي
چه ایښخو دَ بوټي لاندِ م لیدلي
تا په دي باندِ ایمان راوړځهٔ وایه
لوي کارونه به له دي وینې له ورایه
ورته بُ بیا وِ رښتیا وایم درازمان
چه په تاسولري شوي وینئ اسمان
هم به وینئ ملائک پاس په ختون
او په ابنِ ادم بیا په کوزیدون

دویم باب

1 بیا په دریمه ورځ واده وه په قانا
دَ ګلیل کښې. مور ئې هلته دَ عیسیٰ
2 عیسیٰ هم ئې مریدان ملمانه وُ ته
3 په څه وخت کښې چه شراب بیا تمام شُونه

دعیسیٰ مور دہ تہ وَوِ پہ شتاب
وکورہ دوي څخہ نشتہ نور شراب
4 عیسیٰ ویل ای ښځي خما ستا
څہ دي؟ نہ دي لا راغلي وقت خما
5 مورئي پوہ کړل تمام خدمتگاران
چہ څہ دي وايي کوئ هم هغہ شان
6 هغہ ځاي کښ دَيهوديانو دَپاکيدو
دَ دستور پہ موافق دَکانړو سرو
شپږ چاټي وي هريوي کښ پہ راتلو
دوہ يا دري منہ راتلي نوري او بہ
7 عیسیٰ وِ داځمان ډک کړئ لبالب
نو هغوي ترمورگوډک کړل پہ ادب

٢٥

او ... ای ښځي ... مریم ته یو مرید ... ستا مور ده. ... ستا ښځي دي. ... موقعه کښ او د عیسیٰ ... تاممکنه ده چه هم ... د پښتنو ... استعمال ... دستور هغه نه استعمالیږي ... مطابق لفظ ده ... د عزت

بیائې وِ ورته چه و باسئ تر اوس ٨
یوسئ. هلته یو رل دوي تر میر مجلس
میر مجلس چه څه وقت وڅکه دا اب ٩
چه تري اوس جو رشوئ وه پوره له شراب
پوه نه وه چه له کوم ځائې نه راغلل
ولیکن خد متګاران پري پوهیدل
دَ وا ده زلمي ته دهٔ وکړ اواز
هسي رنګ ئې ورته وو په مجاز
هر یو کس اول بهتر شراب راوړي ١٠
او ناقص هاله چه وڅښي تول سوي

(١) هرڅیز چه دَ انسان په خولې کښې ... شو زیږي هم د نشې په طور استعمالیږي. نیي نو سوال دا دي چه انسان یې په څه خیال خوري؟ که څوک بد و بدي زیاته وخوري. نو بد دي سخته نشه ده. که چای هر وقت وڅښي نو د چای نشه اریږي. نه ده. که افیم که دارو په طور وخوړل نشې نا پاکه کوي که د نشې په طور وي نو انسان برباد وي. دا هم د شراب حال دي او اکثر که په پښتو کښې الکحل شراب په یو نوم یاد یږي خو په ډیر قسمه دي لې لکه چون په زمانه کښې داسې شراب هم شته چه تش د نشې د پاره جوړ یږي. مګر اصلي شراب چه په انګریزي واین ورته وایي کیږي د انګورو له اوبو نه جوړ یږي. او په ځنو ملکونو دا رواج دستور دي چه د ډوډۍ په وخت هغه واین هم استعمالیږي. لکه چه دي وطن کښې اوس چای راځي ده. او چه په حساب سره وڅښلې شي

(٢٦) نشې نو نقصان نه کوي. هسې په فلسطین کښې دا رواج دستور وه. مګر په انجیل شریف کښې بعضې حکم راغلي دي چه څوک چه څوراک څښاک زیاتوي نو هغه په دعوت کښې د عیسی مسیح په دي ٩ باب (١٠) نو چه د واده د خاوندانو مدد ... کښې دَ واده دَ خاوندانو مدد وکړه دَ شاني کښې صرف دا دي او دَ خوراک چه خان سل ملیا نه وي. او نا شایه ختم شوه نو لیب دَ هغه چاي نو ... اول چای دَ هغه دَ پاره ... عیسی چه عیسی مسیح په طور دَ معجزې هغه کار وکړ. سوال دا دي که هغه واین د نشې دَ پاره وي نو مریدانو پښه ... شنګه ایمان راوړی نیي چه عیسی کلمة الله داخیال کوي دَ موسوي شریعت پر وانه لرله نو مریدانو دوه هغه بوره هست جزیه ... هو بې چه او توله دنیا ته دا خبره وبایي؟

په یهودیانو کښې لوی اختر هم هغه فسح وه. او دا هغه وقت کښې په چاري شه مصر هغوي کښې نو شه مصریان وژ خلاص وقت چه بند و بنت چه خلاص شو هغوي یهودي د ... ٢٧ خلاصون جاري کړه

ولیکن عجیبه کار دې وکړه دا
چه بهتر شراب ساتلي دي لا تر تا
11 دَ عیسیٰ دَ معجزات دا شروع وه
او لویئ خپله قانا کښې ښکاره کړه
مریدانو پر هم راوړلو ایمان
12 پس له دې دَ هغه مور ورونړه مریدان
ښکته شو کفرنحوم وته روان
لږ ورځې پاتې شو هلته هغان
13 دَ یهود نژدې دَ فسحې اختر وه
عیسیٰ بیت المقدس وته لاړ شه
14 بیت الله کښې یې ولیدل هغه زنان
دَ غواوُ. کډ و او کونترو تاجران
هم طائفه دَ صرافانو یُې وموند له
15 نور دَ پړ دکرو یې جوړه کړه له

بيتُ الله نه ئې هغه ټول وشړل
يعني ګډ ي او غويان ئې وو يستل
او پيسي ئې دَ صرافانو نس کړلي
او تښتي ئې دَ هغوي ټولي وار وُلي
۱۶ کونترو ماروته ئې وَوِ هغه دم
له دي ځايه کړئ دا لري مقدم
دا ځما دَ پلار کور دي دَ جلالت
تاسو مه جوړ وئ ځاي دَ تجارت
۱۷ مريدانو ته ئې يا د شو چه ليک دينه
چه ستا دَ کور غيرت به مِ وخوړينه
۱۸ يهوديانو په جواب عيسیٰ ته وِي
کومه نښنهٔ موږ ته ته ښکاره کوي
چه ته دا کارو نه کړي په خپل اتکل
۱۹ په جواب کښې عيسیٰ دوئ ته ووَيل

ل دَ بني اسرائيلو په مذهب کښي مختلف قسم قربانۍ ښکاريدل او چه خلق له لري ځايونو ته بيت المقدس ته راتلل هغوي ځان سره دَ قربانۍ دپاره څاروي يا نور اسباب نه شو راوړي ـ نو ځکه دا دستور دو رواج شه چه دَ بيت الله په غولي کښې به سوداګران ناست وو ولې چه څاڅي لوي دي وه ـ نو هغه به ئې چارډي کونتري وغيره خرڅول ـ مګر اصلي شريعت دَ قربانۍ دَ کښتادو دپاره دو ير سخت وه چه داسي بې داغه او بې عيبه څيز ښکاريده چه په هيڅ شان نقص به په کښي نه وه ـ بلکې دَ ازهيښت دپاره هم وقت مقرر شوي وه ـ چه که عيب په کښي وي نو هغه به

ښکاري دي وه ملکو دَ سوداګرانو له لاسه هغه شريعت رد شه ولې چه هغوي دَ ښتېي دپاره ناست وو ـ او عيب به ئې نه ښيول هم هغه شان صرافانو به دَ نورو ملکونو پيسي بدلولي او دَ خلقو نقصان به ئې کاوو نو اصلي مقصد دَ شريعت برباد شه او دا وجه وه چه دَ عيسیٰ کلمة الله زړه غيرت وخوړه او ټول ئې دَ بيت الله له غولي نه بهر وشړل

ناسو دا بیت الله ورانَ کړئ په دری دم
په دریو ورځو کښ به ئې زه بیا وُ دروم
20 یهودیانو ورته وویل له قاله
په تیاری، ئې تیر شو شپږ او څلویښت کاله
دا چه هسی رنګه کانډ دعوی ته
په دریو ورځو کښ به و دروی ته څه
21 خو هغه په بیت الله دَ وجود خپل
په بابت دا کلام وکړه مکمل
22 څکه څه وخت چه له مړو پورته کړی شه
مریدانو ته ئې دا کلام یاد شه
په کلام دَ پاک کتاب په هغه حین
دَ عیسیٰ په قول ئې وکړلو یقین
23 بیا اختر چه خاص دَ فسح شروع شه
نو رعیسیٰ په بیت المقدس کښ وه

ع
په انجیل شریف
کښ ډیر ځله راغلی دی
چه صرف هغه خلق نښه لیدل
غواړی چه یقیناً بې ایمان دی
او عیسیٰ کلمة الله هم دا جواب ورکوی
چه بیله نښه به ورنکړی شی دکبره چه یقیناً بې ایمانه ګڼی
دري ورځي او دري شپي به عیسیٰ مسیح هم د مړو
وو. دا سي او شپي به عیسیٰ په قبر کښ وي
ورځي او شپي ۱۲ باب (۴۰) یعنی دا د
رمتی ۱۲ باب او د بیا ژوندی

کیدلو اشاره ده.
عیسیٰ مسیح ته نښه غواړی هغه
او هم دلته چه هغوی له
په تشبیهي طور بیا د خپل مرګ او
بیا ژوندی کیدلو په حق کښی اشاره
ورکوی. مګر دا نښه د ایمان راوړلو
د پاره ده. او نور خلق هغه نه
انکار کوي. او حقیقت هم دا دی.
چه که څوک په هغه نښه یقین نه کوي
چه مسیح پخپله بیا ښایي. نو هغه کسی
په یوه نښان سره دَ عیسیٰ
کلمة الله په اصلیت
پوهیدی نه
شي.

۱ عیسیٰ
کلمة الله یو کار هم کړي
په طور د نښتی نه دي کړي
مګر چه خلقو د هغه زورا ورکاروته
وليدل نو هغوي پخپله په طور
د نښتو کښل او ښکاره ئې پري
یقین وکړو. مګر عیسیٰ مسیح پوه
نه چه کوم یقین یا ایمان چه په
نښتو په زورا ورو کارونو یا په
معجزو شوئ نو دي هغه دبشتښي
او اصلي نه دي نو هغه پوه دي
چه د تعلیم په بنیاد کښل شي نه دي.
او دا وجهه ده چه دا لته عیسیٰ
مسیح د خلقو ایمان هیڅ ایمان
نه ګڼیږي. ولي چه خلقو صرف
تماشه کوله او د هغوي په واه
واه باندي عیسیٰ کلمة الله غلط
نه شه. هغه ته معلومه وه چه
د تعلیم په وجهي به هم دا خلق
ښکاره انکار وکړي. او عکښس په
تیزم باب کښي چرته چه کلمة
الله د ځان په

۳۰

حق کښي تعلیم ورکوي چه د عیسیٰ
هلته معلوم میږي چه د دلته بالکل د ریسته ده.
مسیح خبره دلته بالکل د ریسته ده.
ولي چه خلقو هلته تښل کړ وخوړ
او ویې و چه دا خبري سختي
ده څوک ئې اوریدي شي. او
دي څوک مسیح شاګردي ئې نوره
د عیسیٰ مسیح اوبس پوچوي هم
نه کوله. او تر کسان شته چه

چه د حال دي. ډیر کسان مسیح زورا ور
قسم قسم د عیسیٰ او معجزي منلي او
کارونه او نیکي د خیل خیال په مطابق د
ښکله هم د عزت کوي. مګر هغوي د عیسیٰ
هغه مسیح د اصلي پیغام نه انکار کوي پاتي
حقیقت د خدائ په دي سبب
نبلک نو د حق تعالیٰ اصلي ور نه رسیږي
او د مسیح کښي هغوي نه بنیکاري په عیسیٰ
وجهه صرف دا ده چه تماشي او
واه واه دي. او بکار په طوره د نجات
چه د ځان د پاره خبري د انجیل
واوري.

چه د هغه نښتي ئې ولیدي عبان
ډیرو خلقو په هغه باندي ایمان
24 خو عیسیٰ پر اعتبار نه کاوه ځکه
وجهه دا وه چه هغه ټول پیژندل
25 او حاجت ئې نه لره چه څوک انسان
د انسان په حق شاهدي ورکړي ځکه
سبب دا وه چه هغه پخپله پوهیده
چه په زړه د بني ادم کښي ځه ځه

دریم باب

سله فریسیان په یهودیانو کښې یوه فرقه وه. دَ هغه عیسیٰ مسیح دَ زماني نه قریباً ۲۰۰ کاله وړاندې جوړه شوي وه. مګر دَ مسیح په وقت کښې قریباً شپږ زره وُو. په هغه زمانه کښې دَ یونانیانو زور په ټولي دنیا کښې زیاتیده. رسم او رواج دَ هغوي هم په نورو خلقو کښې تاثیر کول. په یهودیانو کښې بعضي خلق دَ دی خبري مخالفان وُو. او ځان ئې له نورو نه جدا کړ. او **فریسي** نوم ئې په ځان کیښود چه په عبراني ژبه کښې هم دا مطلب لري. یعني **جدا شوي**. نو اوس په هغوي کښې دا تعلیم جاري شه چه سره دَ موسوي شریعت خدائي هم زباني پوره تفسیر یا بیان موسیٰ علیه السلام ته ښولي ده. نو دَ تفسیر پابندي داسي لازمه شوه لکه چه دَ شریعت پابندي وه. بیا هغه پسی دَ علماؤ دَ خاص

تعلیم پابندي وه او
زهد دَ ملایانو دَ تقوی
پابندي لازمه وه.
په دي شان سره اصلي
شریعت له منځه شه. او
انساني تقوی سکوموله ته
خلقو په ظاهري حلال او حرام ته ډیرانه
هیڅ شي. او ناپاک ئې هم
ندي حس او نپوعي
چه اخر چیلو فقیر بیروته
نه وو دي نه شو
[illegible]
ربیسیانو دومره
نوکهم نبلم
ژبو کښې په هره
ح. تجي من هیبان په
موقع کښې

۳۱

سله
فریسیانو کښې یو کس وه نیک نفس
چه په نوم دي یادیده نیکدیمس

ځان ښودلو. په بازار
ښني به ئې دَ خلقو په مخکښې
چل نوع ... کولو. تسبیح به ئې اوږدي
تعویذونه به ئې شان له غټ غټ
جوړول خیرات به ئې دَ خلقو دَ لیدلو دَ
ډیاره کاوه. یعني تقول مذهب دَ
هغوي صورتي وه او دَ خلقو په واه واه
په ډیره خوشحالیدل. اوچه عام خلق اکثر
دَ صورت په موافق فیصله کوي. نو
دَ فریسیانو ډیر تعداد عزت او اختیار
وه اوچه په هغوي کښې ډیر عالمان
هم وو. نو دَ باد شاه په دربار کښې
دَ هغوي اثر کافي وه.
له انجیل شریف نه معلومیږي دا
چه هم هغه خاص مذهبیان دَ
عیسیٰ کلمة الله سخت دښمنان وو
او اخر دَ دوي په اثر او کوشش
سره عیسیٰ مسیح النسانو ته وسپارل
شته. او په سوال شته. اوس
سوال دادي چه دي خاص
من هیبانو ولي
کلمة الله

سره دښمني کوله؟ وجهه دا وه چه عیسیٰ مسیح دَ هغوي په نقلیت پوه شه او هر وقت
به ئې دَ هغوي دَ صورتي مذهب تردید کاوه. دَ فریسیانو دا خیال وه چه انسان دَ شریعت
دَ پوره کولو په کوشش خدائي راضي کولي شي. او څکه دَ خدائي په مخکښې خاطرجمع اودریدي
شي. مګر دَ عیسیٰ کلمة الله دا تعلیم دي چه داسي کس په هیڅ شان سره صادق کیدي نه
شي بلکي غټ ګناهګار دي. (لوقا ۱۸ باب ۱۰ تر ۱۴ ایت وګوره) مګر رښتني مذهبي
هغه دي چه اګر که نیک سړي وي خو دَ خدائي په مخکښې خپله نیکي ناڅیز ګڼړي او هر څه دَ
خدائي په رحم وغوړ ذوي او دَ رحم لاد په دي انجیل شریف کښې صفا صفا ښکاري.

١ سرۀ دَ دي چه په عام طور فریسیان داسي خلق وُو چه رښتني مذهب دَ دوي له ارادتی په تکل بادل شه پیاهم په ظاهري کښي بعضي بعضي کسان وُو چه په رښتیا سرۀ دَ حق متلاشیان وُو. مثلاً حضرت پولس خاص دَ چه خلق ئې خاص دَ غیر یهودیانو دپاره مقرر کړیي ؤه هم فریسي ؤه او نیکدیمس هم دَ یهودیانو په لویه جرګه کښي SANHEDRIN ممبر ؤه هغه هم دَ عیسیٰ مسیح دَ مرګ په موقعه کښي موجود ؤه. او خدمت ئې کاوۀ

٢ نیکدیمس هم په دي خیال عیسیٰ مسیح له راغی چه هغه زور اور دي نبي وګڼلي شي کلمة الله دا خبري واضحي او په بل طرف ئې

٣٢

عیسیٰ مسیح یو نبي ښوئیلي. ولي چه عیسیٰ مسیح ڤائي په ڤائي وُو چه ثابت په ثابت یو عیم نه ثابتوم. ولي چه ایمان دا او دل یوځای نوي ژوندون دي او دَ مثال په طور دنیاوي پیدا ئیشت یاد یخي. یعني دَ دلیله او دَ خیال او دَ نیت اود عمل او دَ اخلاق تبدیلي. ایمان په وجهي لاکیدۀ او دا تبدیلي کیږي په انسان کښي نه راځي. ۳ څوک تش په معجزو یقین ونه کړي.

یهودیانو کښي[١] هغه هم مشرو ئه
2 یوه شپه هغه عیسیٰ له ورغلو ئه
ورته ئې وِ مونږ پوهیږوُ له اغاز
چه دَ رب له لوري ته راغلي اُستاز
هغه نبي[٢] چه ته بنائیي نو هیڅ‌یا
ښولي نه شوي که ئې مل نه وي مولا
3 عیسیٰ وَوِ په جواب وایم رښتیا
چه ترڅو دو باره څوک نه شي پیدا
لیدي نه شي بادشاهي هغه دَ رب
4 نیکدیمس ورته وَوِ په ادب
چه سړي زوړ وي څه رنګ پیدا کیدي شي
دویم ځل دَ مور په نوس ننوتي شي
چه هغه په دوباره پیدا شي بیا؟
5 عیسیٰ وُوِ په جواب وایم رښتیا

۵ عیسیٰ مسیح هغه
نوي پیدا کېدونکي
موقوف کړ په نوي پیدا کېدو ضرور
په اوبو او
روح القدس سره
د اوبو ذکر د بپتسمې
اشارت دی. خلاصه
چه څنګه بپتسمه
بپتسمه یو نښان
یهودیانو کښې سنت
نښان وه. ایمان او د بپتسمې
په وجه ماداخل شوي وي
(۲) بعدازي دي چه ...
او دا یې اقرار دی چه د روح القدس
برکت او فضل په دې ... د روح القدس
او د روح القدس نوی پیدایښت
انسان په دې ... هغه خواځه خاص
د بیان ادبې ده. لکه چه
... انساني طور ... د اوږدې

هم هغه شان روحاني
یا نوي پیدایښت دَ روح القدس
په وجه دي.
(۳) دَ باد مثال دا مطلب لري.
چه څوک دا خیال و نه کړي. چه دا
نوي پیدایښت داسې دي. چه
موږ یې په پوره توګه نه کښېنو دي ...
په منطقي طور هغه ثابت کړو ...
لکه چه باد ... عجب دي خو اثر
یې ښکاري هم دغه شان نوي
پیدایښت په انسان کښ اثر کوي
او هغه ورځ په ورځ ... ځانله مخصوص
کوي.

۵
چه له روح او له اوبو څوک پیدا نه شي
دَ خدای په بادشاهت کښ به را نه شي
۶ له جسي چه څه پیدا شي نو جسه ده
چه له روح نه پیدا شي دَ روح میوه ده
۷ حیران مه شه چه ما تا ته وویل
چه ضرور دي تا له بیا پیدا کیدل
۸ باد ۲ هر خوا وته چه غواړي الوزي
ته یې آواز اورې چه الوزي راځي
خبر نه یې له کوم خوا راځي چر نه ځي
هم په دغه شان له روح پیدا شوي دي
۹ نیکدیمس ورته وې په جواب
دا خبري کیدي څنګه شي جناب؟
۱۰ عیسیٰ وته یې استاذ دَ اسرائیل
بیا څه؟ نه پوهیږي څما په صاف دلیل؟

١٤) پوره قصه د دې مار په حق کښې په توریت شریف کښې لیکلې ده (د گنتي ٢١ باب) عکرلنه دا ده چه بني اسرائیل په ځنگل کښې وو نو مارانو په خلقو حمله وکړله او بې شمار خلق مړه کړېدل. یا خدای موسیٰ علیه السلام له حکم ورکړ چه د ځیمه و مار جوړ کړه او اوچت په یو لرگي ځړه ئې کړه. او هر څوک خلق چه مارانو چیچلي وي او هغه ئې ته د کسیږي او پاس مار ته سترگې پورته کړېږي. هغه به روغ شي. او س په توریت شریف کښې (رېپنلیبت کتاب) لیکلي دي چه د مار په وسیلې گناه اول اول په انسان کښې جاري شوه. او له هغه وخته نه مار د گناه تمثیل یا مثال دي. نو خدای چه په ځنگل کښې دا عجیبه کار وکړ چه هم د مار شکل یئ

11 رښتیا وایم چه څه معلوم دي هغه وایو
چه څه مونږ لید لي دي شاهدي ئې نیایو
او دا شهادت مو نه کړ قبول بیا
12 که ما د زمکي کلام وکړ او هیچا
یقین ونه کړ. څوک به وکړي یقین
که خبري دَ اسمان وکړم یوحین
13 هیڅوک کس نه دي ختلي تر اسمان
بي له هغه چه تري راکوز شه په جهان
چه اسمان کښ دي یعني ابن ادم
14 په څه رنگه چه موسیٰ نبي یو دم
ولا ځنگل کښ مار په لوړه خیژولي
ضرور دي چه هسي شان یو ځل غاغلي
15 اوچت وخیژولي شي ابن ادم
دي دَ پاره هر څوک چه په هغه دم

د مار د زهر د بچکیدو د پاره مقرر کړو. او چه عیسیٰ مسیح هم دغه واقعه اخلي او د ځان د پاره مثال جوړوي نو معلومیږي دا له چه عیسیٰ کلمة الله مصلوب شي نو د گناه په طور روح بند دي. لکه چه حضرت پولس وایي چه مسیح گناه شه. چه اوس د هغه سولي ته د د پاره د گناه انسان چیچلي بچوگي نو د گناه ایمان په سترگو نه ځي او وستي. هغوی د هر مرگ طاقت د ژوند وند ژوند په انسان کښي راځي:

او په هغه مصلوب شوي راوړي ايمان
بيا مومي هغه ژوندون دَ جاودان
16 ولې چه خدايْ دي دنيا سره داسي
مينه وکړله چه خپل يواځي ځوي يې ورکړه
چه هر څوک چه پر ايمان راوړي هلاک
نه شي مگر دَ هميشه ژوندون ولري
17 ولې چه خدايْ خپل ځوي دي دنيا ته
نه دي څکه رالېږلي چه يو خواته
دا دنيا کاندِ مجرمه په قانون
بلکي بيا مومي له ده څني خلاصون
18 چه پر څوک راوړي ايمان نه شي مجرم
چه څوک نه راوړي نو اوس مجرم دي هم

[illegible]

سبب دا چه دَ خدائ دَ ځوي په نوم
دهٔ ايمان نهٔ دي راوړي شهٔ معلوم
١٩ او دَ مجرم کيدو خاص سبب دي دا
چه رڼا په دنيا راغله خو دنيا
له تياري محبت وکړ بي حِساب
وجهه دا ده چه کارونه يې دوُ خراب
٢٠ ولي هر ځوک چه بدي کړِي هغه بيا
له رڼا سره کينه کړِي - سبب دا
هسي نهٔ چه يې هر کار ملامت شِي
٢١ وليکن چه ځوک په حق عمل کوِي
دي رڼا وته راځِي چه يې هر کار
شِي ښکاره چه په خدائ کښ شهٔ اظهار
٢٢ پس له دي عيسیٰ او هم يې مريدان
يهوديه وطن ته راغلل خرامان
هلته کښ هغوي سره يې ډيره وکړه
بپتسمه يې هم هغه ځائ کښ ورکوله

23 په عینون کښ چه شالیم ته دي نژدي
یحیی هم ورکړله چه اوبه ډیري وي
راتلل بپتسمي له هم بیحد انسان
24 خو یحیی قید شوي نهٔ وه تر دي زمان
25 مریدانو دَ یحیی یو یهودي
سره بحث په طهارت جوړ کړ دستي
26 هغوي ورغلل یحیی ته یُې په گفتن
وِ استاذ. هغه سړي چه له یرډن
پوري غاړه تاسره وه او چه تا
دَ هغهٔ ګواهي وکړه په رښتیا
ګوره هغه اوس بپتسمه ورکوي
تمامي خلق هغهٔ لره ورځي
27 یحیی وُو په جواب کښ چه انسان
هیڅ موندلي نه شي څو چه له آسمان
28 ورکړي نهٔ شي. تاسو ټول یُې شاهدان
چه ما ویلي وُو مسیح نهٔ یم په ګمان

مګر بیا دَ هغه دَ ورانډې په دا حین
29 رالیږلي شوي یم نهٔ په یقین
چه دَ چا ناوي وي هغه دَ واده
خاص زلمي دي ولیکن چه دوست دَده
چه ولاړ وي دَ هغهٔ اوري هغه
دَ زلمي په اواز ډیر ښاد وي ښکاره
دا ښادي ځما پوره شوه په دي دم
30 ضرور دي چه هغه زیات شي او زه کم
31 چه [له] له پاس نه څوک راځي له ټولو پاس دي
چه له زمکي نه څوک دي دَ زمکي خاص دي
او خبري هم دَ زمکي هغه کړي
له اسمانَ چه څوک راځي هغه پاس وي
32 چه هر څنګه یې ولیدل او واوریدل
شهادت کوي دَ هغي مکمل
خو هېڅوک دَ هغهٔ شاهدي نهٔ قبلوي
33 او چه څوک دَ هغهٔ دا شاهدي مني .

[له] په دي ځاي کښ
مطلب دا دي چه انسان
دنیاوي دي او ځکه دَ اسمان
په خبرو شاهدي نه ټيني
ورکولي ولي چه هغه اسمان
نه چېري ختلي نه دي چه دَ
هغه ځاي حال وويني. او بحس
که حضرت عیسی لوي او
کامل پیغمبر وه خو بیا هغه
دَ نورو پیغمبرانو
له دي دنیا وه
په شان

څو هغه کس چه
له خداي نه وتلي وه او
دنیا نه راغي هغه شاهدي دَ
ورکولي شي او شاهدي دي
هغه دَ ریښتیا دَه هم بې نورو
طور دَ عیسی مسیح او دَ
خاص قدرت معلومېږي.

هغه مهر ولګوه په دي کلام
چه خداي تعالی دي رښتني مدام
34 څکه څوک چه پاک خداي دي رالېږلي
هغه د خداي خبري کوي ښکلي
هغه روح په اندازه نه ورکوي
35 پلار له څوي سره بيشکه مينه لري
کل اشياي د هغه په لاس ورکړي دي
36 بيا هغه څوک چه په څوي ايمان راوړي
هم هغه د هميشه ژوندون لري
وليکن بيا چه يې څوک څوي نه مني
وبه نه ويني ژوندون بلکه د رب
نور په هغه باندي پاتي شه غضب[۱]

څلورم باب

چه معلومه شوه مالک ته څه وقت دا
فريسيانو واوريدل دا چه عيسی

(۱) له دي ځايه نه او هم له نورو مقامونو نه معلوميږي چه د خداي غضب د بني آدم د غضب په شان نه دي. بلکه کس کار د عيسی هغه الله کلام او د وليدل او بيا د ايمان نه ديږي نه راوړي چه هغه له خداي نه وليکي. دي او قهر د هغه کس خبري د حق تعالی غضب

اوس لکښ کيږي. په هغه کس عجبي هم د دي طور پيږي دي هم د هغه چه هغه کس هم په دي طور کيږي. په دنيا چه په هغه کس او د ژوندون نه خلوي خداي حال کښي له اصلي و سيلي ته ژوندون د ژوندون نه انکار وي. او خداي پيدا ده را ليږلي دي چه هغه د انجيله ته اوسيږي

مریدان خپل له یحییٰ نه زیاتوِي
بپتسمه وله هم په وخت ورکوِي
2 که عیسیٰ خود بپتسمه نهٔ ورکوله
مریدانو ته ئې بلکې وسپارله
3 لاړ گلیل ته یهود به ئې پرېښودله
4 خو دا لاړله په سامریه کښې، تیریدله
5 راغي نور په سامریه کښې تریو ښار
چه په نوم هغه بللي شهٔ سوخار
هغه زمکې ته نژدې وه چه یعقوبؑ
وه ورکړې تریوسف ځوئي محبوب
6 دَ یعقوب کوهي هم هغه ځائې کښې وه
نو عیسیٰ چه له سفر نه ستړې شهٔ
په کوهي باندې نور هسې کښېناستنه
قریباً شپږم ساعت هغه وقت وُنه
7 دَ سامریه یوه ښځه دَ اوبو
دَ ایستو دَ پاره راغلله رو رو

د عیسیٰ مسیح
په زمانه کښې د فلسطین
ځنځه علاقې وې. او د
یهودیه او د گلیل په
کښې د سامریانو علاقه منځ
په اصلیت کښې سامریان ده
یو غیر خلق وه. چه دوی ملت
ته په هغه زمانه کښې راغلي
وو. چه یهودیان په بابل کښې
مریبان وو. سامریانو د
موسیٰ علیه السلام

د نبیانو تورات منلو ممر
منلې. او خاص صحیفې به ئې نه
غرزیم باندې جوړه ځای د عبادت
عبادت په خپله علاقه کښې په
یهودیانو به بیت المقدس کښې عبادت
بیت الله کښې خاص ... کښې
بیت المقدس ته حج او کال په
یهودیانو ښکله په سپک نظر
سامریانو ته کتل او هغوی به
هم ځان له یهودیانو
نه ساته.

عیسیٰ ور ته وُ وِ غواړم تا نه څښاک
مریدان تلي وُو چه واخلي خوراک ٨
هغي ښځي ور ته وِ. ته یې یهودي ٩
غواړې ما نه اوبه څنګه؟ یم سامري
ولې چه یهودیانو هیڅ غرض سروکار
سامریانو سره نه لره په یو وار
په جواب کښ عیسیٰ وُ وِ له دغه ١٠
که دَ پاک خدائي پیژندلې تا بخښنه
هم پوهیدلې چه هغه څوک دي له یقین
چه له تا نه اوبه غواړي بې دي حین
تا پخپله به له هغهُ اوبه غوښتلې
دَ ژوندون اوبه به لي در ته درکولې
ښځې وِ صاحبه دَ ایستو دَ پاره ١١
تا څخه هیڅ څیز هم نهُ ښکارې آشکاره
او کوهي ژور دي نو دَ ژوندون آب
ته له کومه لري. پاته نه شوم په دې باب

12 ته زيات لوي يې څه څمونږ له پلار يعقوب
چه ئې مونږ له دا كوهی راكړ مرعوب
هغه خپله او ځامنو يې هم ئې مال
13 به تر ځښلي. عيسیٰ وويل په قال
چه هر څوک له دې آب ځښي بيا تږي شي
14 مګر هر څوک چه له هغه اوبو ځښي
چه به ئې زه وركوم هغه به تر تل
تږي نه شي بلكي كوم آب چه يو ځل
وركوم زهٔ. په هغهٔ كښې به چينه شي
چه دَ تل دَ ژوند دَ پاره به پښكاره شي
15 ښځې وُوِ په جواب كښې اىُ صاحبه
ماله هغه اوبه راكړه عجائبه
چه زهٔ و ځښمه او بيا تږي نهٔ شم
نهٔ اوبو ايستو لره دلته راځم
16 عيسیٰ وُوِ په جواب كښې لاړه شهَ
خپل خاوند را وله بيا دلته راځهَ

17 ښځي زړدا په جواب کښ ووېل
خاوند نه لرم. عیسیٰ ؤ فرمایل
ښه دِ وُوِ چه خاوند زه نه لرم
18 پنځه سړي کړي دِي تا دم په دم
چه چا اوس ساتلي يي خود هغه ستا
خاوند نه دي . دا دِ ووېل رښتیا
19 ښځي وِ ما ته نبي ښکارېږي ته
20 پلار نیکه مو عبادت کاوه په دي غرهٔ
تاسو وایئ چه بیت المقدس دي ځلي
چر ته چه عبادت ښایئ دَ خدئ
21 عیسیٰ وُوِ په خبره ته ځما
اوس ای ښځي یقین وکړه په رښتیا
هغه وقت راځي چه نهٔ په دي غرهٔ بانډِ
نهٔ په پاک ښار عبادت دَ پلار بهٔ کانډِ
22 څه چه نهٔ پېژنئ تاسو ئي کړئ خدمت
مونږ چه څه پېژنو کړو ئي عبادت

سـ یهودیانو په هر شان سره دا منلو چه خدایي حاضر اوردي. مگر په هغه زمانه کښې چه خدايي دَ موسیٰ علیه السلام په وسیلي خلق دَ مصر نه خلاص کړل نو کوم وقت چه هغوي ځنګل ته ورتل خدايي بیا دَ موسیٰ کلیم الله په ذریعه ورته وښول چه یو خاص تمبو جوړ کړي. چه دَ عبادت ځايُ شي. چه تمبو تیار شه نو خدايُ یه خاص طور خپل جلال په هغه کښې نازل کړ. مگر چه بني اسرائیل فلسطین ته ورسیدل او قایم شو. نو دَ تمبو په ځايي ئي پوخ مقام جوړ کړ او هغه دَ حضرت سُلیمان له لاسه تیار شه. بیا هغه یو ځو ځله دَ غیر اقوام دَ بادشاهانو له لاس نه ویجاړ شه. بیا خاص دَ مسیح په زمانه کښې هیرودس بادشاه ډیر کوشش کاوه چه خلق یه دي شان خوشحاله کړم

ولي چه له یهود یانو نه نجات دي
23 مگر هغه وقت راځي بلکي دا ساعت دي
چه رښتین عبادت کنړونکي به دَ پلار
عبادت په روح رښتیا کوي هر وار
وجهه دا ده چه پلار هم په هغه شان
عبادت کونکي غواړي هر زمان

چه بیت الله چه دَ ابادکیم لا دوي او خایسته بحث کوم ځکه معلومیږي. چه دَ عبادت دَ خاص ځاي په حق کوم دَ هغه ساموي شخي ۵. او دا وجهه ده یو

۴۴

ډیر دا سوال پیښ شو دَ ساموي خلقو دَ یاره هغه ځای دَ پاره مقام مقرر کړي چه وکړي بڼي

ولا او هغوي به بیت المقدس ته نهٔ تلل. مگر دَ عیسیٰ کلمة الله جواب دا دي چه دَ دوانړو دَ پاره به دَ عبادت خاص ځايي یا خاص صورت نهٔ وي. اوس به عبادت تش په سیرت موقوف وي. غرض دا چه سامریانو به تش خپل خلق عبادت ته پرینښو دل. او یهودیانو به هیڅ له. بغیر له یهودیانو نه اجازت نه ورکاوه چه په بیت الله کښې دننه لاړ شي. مگر چه عیسیٰ مسیح عالمگیر خلاصونکي دي. نو عبادت بیا په خاص قوم کښې یا په ځايُ کښې پاتي کیدي نهٔ شوه ځکه مالک مسیح پخپله دا وایي. چه اوس به عبادت عام شي. نهٔ په قوم او نهٔ په ځايُ موقوف دي هر چرته چه په حق او په روح سره کیږي هغه ځايُ ښه دي. او هم دا وجهه ده چه په عیسایت کښې دُ عبادت دَ پاره دَ قبلي بندیز نشته او نهٔ دَ یو منبهر په بل فضیلت شته. مگر صرف دَ روح او دَ رښتیا شرط دي. چه دَ عبد او دُ معبود په مینځ کښې دي.

24 نو خدایُ روح دي او هر څوک چه غواړي
چه يُې عبادت .وکړي دا پکار دي
چه يُې وکړي په روح او رښتيا سره
25 ښځي وُوِ .ما ته دا معلومه ده
مسیح يعني خرستس راتلونکي دئ
چه راشي مونږ ته به ښايئ ټولي خبري
26 عيسىٰ ورته وِ زه چه تاسره کړم
خبري .نور زهُ هم هغه مسیح يم
27 په دي مينځ کښې مريدان دَ ده راغلل
او دوي هم په دي خبره حيران شول
خو هيڅوا ورته وُ نهُ وِ چه څه غواړي تهٔ
يا دي .ښځي سره ولي کلام کړي تهٔ
28 ښځي پريښود خپل منګي او ښهر ته لاړه
ويُ ويل خلقو ته دا په هسکه غاړه
29 راشئ يو سړي وګورئ چه هر څه
چه ما کړي وُو راته ويښول ټول هغهٔ

د عيسىٰ هغه زمانه کښې چه [illegible] شو
کتابونه د مقدس وه هغوي ته
د راتلو په طمع کښې
شو په [illegible] قسم خيال
انتظار کاوه او

۴۵

پوره دي
کله چه [illegible] خيال. شو
هغه [illegible] بيا په
مسيح [illegible] د تعليم [illegible] غير [illegible] بل شان
لسلم د اول [illegible] ساهر [illegible] هغه حد
بيان [illegible] مستقل وه [illegible] اقوامو کښې
[illegible] تفسير [illegible] کښې هم د

نو څنګه دغه هغه مسیح نه وي؟
30 وو تل له ښهره وله ور تلل هغوي
31 په دي مینځ کښې مریدانو وکړه سوال
اې استاذه ته څه وخوره دم در حال
32 نو هغوي ته يې ووېل چه ما څخه
دَ خوړلو دَ پاره هسي خوراک شته
چه يې نه پيژنئ تاسو له يو څخه
33 ځکه وو مریدانو یو تر بله
چا راوړي دي خوراک هغهٔ له څهٔ
34 په جواب کښې ورته ووېل هغهٔ
دا خوراک م دي چه چا راستولي يم
دَ هغهٔ مرضي دَ هغهٔ کار پوره کړم
35 تاسو نهٔ وايئ چه اوس میاشتي څلور
پاتي دي څه؟ پس به لو کړه شي فی الفور

په دولسم باب کښې چه ته چه یونانیان راغلي. او دَ عیسیٰ مسیح تیوس کیږي. بلکي دَ عیسایت له شروع نه او تر دي وقت پوري هم دا مثال دښتني کیږي. یعني چه یو کس کیږي او بل دیبي. دلته چه عیسایت ترا وسه هم دامي خوریږي. چه دَ ایمان په وجهي دي خلاص کښې موجود دي. او هم انتظار هم په غیږ کښې حلقه یهودي چه هغه کښې وو. بلکي تر دي ښار دو. او په انتظار هغوي ځه. او خلق هم خدا صو بي پیغام خو په دي ویبلي دَ دنیا دَ دنیا نواو دَ پیغمبرانو چه دَ اوږیږي مو دي نه عیسیٰ مسیح مطالب دادي په مثال کښې دَ ما لګ په دي

دَ زمکي په تیاره او عمر پیرکیږي. او دَ هغوي په ژوندیون کښې چه اله کړلو هیڅ نه کیږي بلکي بهر خلق وايي چه عملي فضول نیږه هم په دویم لیښت کښې هم هغه دَ کلام نخم لوي نیږي. او دا بي نیسي او تول خلق ایمان راوړي هغه شان پو کیږي او بل راځي. او بل اصلیت کښې دواړه پو دي. و دي چه نه کو وبني دَ خان دَ پاره کړي او نه دي بیرته دَ حان عیسایت په ږدنیا کښې خوریږي او دا پیدا کړي

ګورئ زهٔ تاسو ته وایم په رښتیا
خپلې سترګې پورته کړئ پټو ته هرخوا
وګورئ دَ لو دَ پاره دِي اوس تیار
36 او لوګري مزدورِي اخلِي دَ کار
دَ همیش دَ ژوندون دَ پاره ترِمیوه
تولوِي بنه عجیبه کره وره
چه کرونکي او ریبونکي خوشحالي
37 یو ځائي وکړِي. دلته دا متل راځِي
38 یو کرِي او بل ئِي ریبِي. تاسو ما
ولیږئ چه هغه ریبئ صفا
چه پرِ تاسو نهٔ ده کړي څه خوارِي
نورو خوارِي ده کړِي حقیقِي
نو دَ هغوي خوارئ کښ تاسو شریک یئ
او دَ هغوي په بنادئ کښ داخل شوئ
39 دَدي ښهر ډیر سامریانو په هغهٔ
دَدي ښځي په سبب ایمان راوړهٔ

چه هغي شاهدي ورکړه هغه شان
چه څه ما کړي وُو ما ته يُ کړه بيان
40 بيا سامريان چه ورغلل ويُ کړ تر سوال
ور ته يُ وِ مونږ څخه پاتي شه في الحال
ويُ کړه دوه ورځي هغوي څخه قيام
41 نور ډېر و خلقو هم يُ دَ کلام
په سبب سره په هغهٔ راوړ ايمان
42 او هغي ښځي ته يُ وُوِ هسي شان
مونږه اوس ستا دَ خبر په وسيلي
ايمان نهٔ راوړوُ. مونږ خپله واوريدي
او هم مونږه يوهٔ شوي يو په دې شان
چه بيشک هغه خلاصون دي دَ جهان

٤٨

مطابق به عالم کبیر
تخصیصیت دي. او تحول جهان
به ده هغه په وسیلې خلاصون موي
او دا هم یوه عجیبه خبره ده چه
هم هغه سامریان چه دَ یهودیانو
دښمنان وو. په یهودي و منه
خلاصون دَ هغهٔ په وسیله
مونږ ته ورسید.
او له تاریخ کلیسیا نه هم
معلومیږي چه دَ عیسی مسیح ...
[illegible]
سامریانو کښي کلي جماعت
دَ عیسیایانو قایم
پاتي شه.

43 پس له دوو ورځو نه شهٔ روان عیسیٰ
او په خپل نیت ګلیل ته لاړ شهٔ بیا
44 ولي چه پخپله ئې ئې ورکړ شهادت
چه خپل مُلک کښې نبي نه لري عزت
45 هر کله چه هغه راغي تر ګلیل
ګلیلیانو دي قبول کړ بې تعجیل
ولي چه بیت المقدس کښې هر څه
چه په اختر کښې کړي وُو هم هغهٔ
هغوي هغه ټول کار و نه ولیدل
ځکه چه دوي به اختر لره تلل
46 بیا هغه ګلیل کښې راغي تر قانا
چه ئې جوړ کړي له اوبو وُو مي پخوا
هلته کښې دَ بادشاه یو ملازم وُنه
چه ئې ځوي کفرنحوم کښې ناروغ وُنه
47 چه دهٔ واوریدل عیسیٰ له یهودي
اوس ګلیل ته دي راغلي ودغي

عرض يُ وکړ ښکته راشه څما زوئ
جوړ کړه ولي چه مړ کيږي قريب دي
48 عيسىٰ ورته وِ که تاسو نخښني. لوي کارونه
ونه وينئ نو يڅرې له مضمونه
49 ايمان نه راوړئ. عرض دکړلو اميد
اي صاحبه ښکته راشه بى تاخيره
50 هسي نهُ چه څوئ مې مړ شي په دي ميان کښ
عيسىٰ ورکړ دا جواب په هغه ان کښ
ځه ته لاړ شه بيرته څوئ ژوندئ دي ستا
هغه کس نور په خبره دَ عيسىٰ
51 وکړ بنه کامل يقين. بيرته لاړ شنه
مګر هغه لا په ښکته کوزيدنه
نوکران ده لره مخي له راغلل
52 ستا هلک ژوندئ دي ده ته ئى ووئيل
ده تپوس وکړ کوم وقت ئى ښه شه حال
هغوي ووئيل پرون. بلند اقبال

په دي ځاي کښ عيسىٰ مسيح
هغه خلق ملامت کوي چه
ايمان نه لري. مګر د معجزاتو
تماشګير دي. او چه عيسىٰ
کلمة الله زړه سوانده کوي او د
ملازم مال د په بيو عجيبه طريقي
کيږي. يعني د قانا کښ د کنعو ځوم
فاصله وه. او چه عيسىٰ مسيح ميله
تلش په ځاي کلام سره

٥٠

د ملازم ځوي جوړ
همه ته دا مبلکنه خبره کړه
هم ورو د خلقو کښ داسي کسان
د دي د پاره د الله ميله سفر کړي
دوينځي. چه د عيسىٰ کلمة الله
کار بيوره شه او کړه بيوره نه شه
صرف نيات سره هغه په پاره
او په ب طرف د ايمانداريس مل د دپاره
ځايد تماشي د پاره خلقو ځيني
ونه شه.

په اووم ساعت کښ تبي پرېښوده
33 پلار ئې پوه شه چه دا هم هغه وقت وه
چه عیسیٰ وِ ځوئي ژوندي دی ستا دا ان
نو هم ده هم ئې ټول کور راوړه ایمان
34 دا بیا ده دویمه نخښنه بنه صفا
چه هغه وقت کړي وه مسیح عیسیٰ
چه هغه له یهودیه نه شهٔ روان
او په تلو کښ راغي تر ګلیل کومان

پنځم باب

1 پس له دي د یهودیانو اختروهٔ
عیسیٰ بیت المقدس وته لاړ شهٔ

2 يو تلاو په بيت المقدس كښې دِي
دَ گډو دروازې څخه نژدِې دِي
عبراني كښې بيتِ حسدا بللي شي
او دَ هغې تلاو پنځه منډوه دِي
3 چه په كښې ګڼ رنځوران يعني راندهٔ
ګډ اوشل هم په نورقسم وُو پراته
5 هغه ځايُ كښې وَه هم يوسړي غريب
له اته دېرش ^{۳۸} كالو وه ناروغ قريب
6 چه هغه سړي پروت وليدهٔ عيسىٰ
په دې پوه شهٔ چه له ډېرې مدې دا
پروت دې ورته يې وِ ته غواړي چه شې جوړ
7 په جواب عيسىٰ ته وُوِ رنځور زوړ
اي صاحبه هيڅوك هم نشته څما
چه څه وقت او به وخوځي هغه ما
دې تلاو ته ورکوز كاندِ يو دم
او ترڅو چه زه پخپله كوزيږم

له داسې معلوميږي
په بيت حسدا كښې يو
قسم زيارت وه. خلقو دا
يقينن كاوه چه هر كله چه په دې
تلاو كښې اوبه په الامښي نو اول كس
چه ورننوتې هغه به جوړېدو نو
په تاريخي طور نه معلوميږي
چه اصليت په كښې څه وه
مګر دومره خبره صفا
ښكاري چه د دې بيمار خلق
ورته رجوع شوې وُو

٥٢

عجيب اخته لوبي چه د ديري روږي كښې
جوړه شوه وه. مدري بلكه چه رنځور هغه
كاله په دې عيسىٰ دوه ځله حكمه الله
رنځ له نيولو وله پروت شلو لښت وه
ورګوز شي.

له دَ بني اسرائیلو دَ شریعت په موافق دا حکم وه او اوس هم په لس احکام کښې شته چه ته
به دَ ارام ورځ ساتې. مګر دَ فریسیانو په تقلیم کښې دَ دې یو سم او اصلي حکم په ځاې
یو تک فضول حکمونه جاري شوي وو. لکه مثلاً کټوک بو ایښیش او چت کړي او وړي نو دا پېښي
شه. او نا روا شه. بلکه نیم داخلي نو روا شه. داسي هم دَ خوراک دَ حلال و حرام دَ دادا. دَ

بل سري روښې له ما نه بسکته شي
8 عیسیٰ دُوِ ورته پاځه سمد ستي
بستره پورته کړه وګرزه پځپله
9 نو هغه کس یو دم جوړ شه له یو ځله
بستره يې پورته کړه وګرزید پځپله
ولیکن دا ورځ دَ سبت وَه کامله
10 یهودیانو ځکه دُوِ ته روغ شوي
نن دَ سبت ورځ ده دا روانه دِي

پیدا یښت نه وي راغلي نو بني ادم غرق دي. مګر لکه کلمة الله پخپله نیکدیمس ته وېلي وو. که دویم ځل
پیدا نه شي دَ خداې بادشاهت لیدلي نه شي. دَ اتوار په سحر کښې خمونږ مالک عیسیٰ مسیح له قبر
نه بیا ژوندي پورته شه. او په دې ورځ يې په مرګ فتح وموند له. چه دَ هغه په وسیلې په انسان
کښې دَ دې نوي ژوندون پیدا یښت راځي. ځکه په عیسایانو کښې دَ اتوار ورځ ساتلې کیږي.

چه کړي پورته بستره او گرزي ته
مگر هغه دله دا جواب ورکه 11
چه چا زه جوړ کړي یم وئي ویل ما ته
واخله خپله بستره گرزه هم خوانه
دوي سوال وکړ هغه دي څوک چه يې وِتا ته 12
واخله خپله بستره گرزه هم خوانه
خو هغه جوړ شوي سړي ته نه وُ معلوم 13
هغه څوک دي چه يې جوړ کړم زهٔ مغوم
ولي چه عیسیٰ تر ځان ایستلي وهٔ
وجهه دا دا هغه ځاي کښ خلق شهٔ
پس له دي په بیت الله کښ بیا عیسیٰ 14
هغه ولید. ور ته يې وفرمایل دا
اوس ته جوړ يي خو بیا مه کوه گناه ته
هسي نهٔ په لوي آفت شي مبتلا ته
هغه کس لاړ. یهودیانو ته يې ووِدا 15
چه چا زهٔ جوړ کړلم دي هغه عیسیٰ

16 نو یهود ځکه عیسیٰ ورېړوه
چه هغه د سبت په ورځ دا کار وکړه
17 عیسیٰ دوئ له جواب ورکړ هغه دم
خما پلار تر اوس کار کړي زه هم کړم
18 یهودیانو نور کوشش وکړلو وراندِ
چه ئي قتل کړي. خو نه تش په دي باندِ
چه هغه د سبت په ورځ کوي دا کار
بلکه هم خدائ ته وايي خاص خپل پلار
برابر خدائ سره کڼي خپل ځان
19 عیسیٰ ورکړ جواب هغه زمان
زه رښتیا رښتیا کړم دا کلام بنا فلي
ځوئ له خپل ځانه هیڅ نه شي کولي

بي له هغې نه چه وینې۔ چه کوي پلار
هر څه چه کوي ځوئ هم کوي ئاکار
ولي چه پلار ځوئ سره مینه لري 20
چه هر څه خپله کړي ځوئ ته هم ښائي
هم له دي به لوئ کارونه کړي عیان
په لیدو به ئې تاسو پاتې شئ حیران
لکه پلار چه خپله مړه ژوندي کوي 21
ځوئ هم ژوندي کوي څوک چه غواړي
هم عدالت دَ هیچا نهٔ کوي پلار 22
مګر ځوئ ته ئې ورکړ کُل اختیار
دي، دَ پاره چه ټول وکاندِ دَ ځوئ 23
عزت۔ لکه چه دَ پلار عزت کوي
که څوک دَ ځوئ عزت نه کړي هم دَ پلار
نه کوي چه ځوئ ئې لیږلي دي اشکار
رښتیا وایم چه څوک زما کلام اوري 24
او په هغه باندِ څوک ایمان راوړي

ف
دَ خپلو خبرو په
ثبوت عیسیٰ مسیح دوه دلیلونه
پیښي کوي۔ اول دا خلایق و له ته
ژوندون او په مرګ اختیار ورکړی دی
دي چه دا خاص الخاص دَ خدای کار
دی۔ دویم دا چه دَ خدای په دربار
کښې چه عدالت وشي۔ نو به دي به
وشي۔ چه انسان په عیسیٰ کلمة الله
ایمان راوړی دی۔ او که نه وي راوړی
ف ۲۳ دي ته عزت نه ایښي وي
چه څوک دَ خپل خیال

۵۶

په مطابق دَ بل چا
قادر وګڼي۔ دي ته عزت
وایي چه دَ جلالي قادر دعوی
لکه چه هغه په خپله دَ قادر دعوی
کوي نو دَ عیسیٰ مسیح عزت کول
دا دي۔ چه بني آدم ایمان راوړي
چه هر څه دعوی چه هغه دَ خپل
ځان دَ پاره کوي۔ دا رښتیا دي۔ که
موږ هغه په پیغمبرانو کښې
شامل کړو۔ نو دا پوره عزت
نه دي۔ ولې چه هغه دَ دي نه
ډیره دعوی دَ ځان دَ پاره
کوي۔

چه چا زه یم را استولي[1] هغه کس
دَهمیش ژوندون[2] لري بي شکه اوس
عدالت ته نه راځي بلکي له مرګ
دي وتلي په ژوندون داخل دي زبرګ
25 ربښتیا وایم چه راځي هغه ساعت
بلکي اوس دي چه به مړي بي مهلت
دَ خداي دَ ځوي اواز اوري. او کوم
چه اواز واوري ژوندي به شي یو دم
26 څنګه چه ژوندون وِن خپل ځان کښ لري پلار
دغه شان ئې ځوي له هم ورکړ اختیار
چه خپل ځان کښ دَ ژوند ولري طاقت
27 ورئې کړ اختیار چه وکړي عدالت
چه هغه ابن آدم دي په دي بانډِ
28 حیران مه شئ اوس راځي هغه وقت روانډِ
په قبرونو کښ چه څومره مړي دِي
هغوئ ټول به دَ هغه اواز اوري

[1] ایمان داسي نه دي چه څوک عیسی مسیح پیغمبر ومني. لیکن په منلو هیڅ نه کیږي. دي ته ایمان وایي چه انسان دا یقین لري چه حق تعالی دغه یو شخص مقرر کړي او دنیا ته رالیږلي دي. چه دَ هغه په وسیله انسان ژوندون حاصل کړي.

[2] انجیل شریف کښ دَ تل ژوندون او دَ جسم ژوندون [illegible] عیسی کلمة الله باندي ایمان لري. هغه [illegible] هم دي. اګر که په جسماني طور [illegible] دي. صرف هغه کس دَ تل ژوندون امید لري. [illegible] چه دَ مرګ په وقت دا ایمان لري. چه هم په قبر کښي به زه دَ پلار اواز اورم او [illegible] به ژوندي شم. او ربښتیني [illegible] په دي دنیا به نه ښکاري.

29 او بهر به په آواز راځي هغوي
دَقیامت ژوندله چه ښه کړي وُو دوي
او هغوي چه بد ئي کړي وُو بلي مهلت
خاص دَ پاره دَ قیامت دَ عدالت
30 زهٔ له ځپل ځان نه کولي هیڅ نهٔ شم
څه چه اورم عدالت داسي کوم
عدالت مِ دَ انصاف دي انصاف کوم
ولي چه ځپلي مرضئ ته نهٔ گورم
بلکي دَ هغهٔ مرضي پوره کوم
چه ئي زهٔ دلته کښ رااستولم
31 که دَ ځان دَ پاره زهٔ شاهدي ورکړم
نو ځما شاهدي رښتیا نهٔ ده بیا هم
32 خو یو شته دي چه شاهدي ځما دَپاره
ورکوي. ما ته معلومه ده له واره
څه شاهدي چه هغه ما دپاره کړي
هغه ده بالکل رښتنه حقیقي

33 تاسو ولیږل یحیيٰ وته کسان
او هغهٔ په حقیقت ځما ښه شان
34 شاهدي ورکړه. مګر زهٔ دَ انسان
شاهدي نهٔ قبلوم خو بیا دغه بیان
ځکه کوم چه تاسو بیا مومئ خلاصون
35 هغه بلهٔ ډیوه وه دَ ځلیدون
ستاسو خوښه وَه چه دَ یو ساعت دَ پاره
په رڼا کښ ئې هم ښاد اوسئ له واره
36 ولیکن چه شاهدي ماځخه شته
چه دَ یحیيٰ شاهدئ نه لویه ده
کوم کارونه چه دَ پلار له لوري کړم
او هغه کارونه زهٔ پوره کوم
هغه کړي ځما دَ پاره شهادت
چه یم پلار رالیږلی په قدرت
37 او چه پلار راواستلم هغهٔ هم
شاهدي وکړه ځما په حق محکم

نهٔ دَ هغهٔ اواز دي تاسو اوریدلي
نهٔ مُوچري دَ هغهٔ شکل دي لیدلي
38 او په خپلو زړو نو کښ دَ هغهٔ کلام
قایم نهٔ لرئ سبب دا دی تمام
دلي چه څوک چه هغه دي رالېږلي
په هغهٔ تاسو یقین نهٔ کړئ بناغلي
39 لټوئ تاسو کتابِ مقدس
دا گمان کړئ چه په هغه کښ هم اوس
شته دَ همیشه ژوندون ستاسو دَپاره
خودا هم هغه دي چه کوي له واره
40 زما شاهدي. بیا تاسو نهٔ غواړئ
چه راشئ ماله او ژوندون بیا مومئ
41 له انسان څخه عِزت زهٔ نهٔ غواړم
42 ولیکن چه تاسو هم زهٔ پیژنم
ستاسو زړه کښ نشته مینه دَ ستا ر
43 زهٔ راغلي یم په نامه دَ خپل پلار

۵۸ مسیح د لته
په خلقو باندې یو سخت
اعتراض کوي. هغه صفا صفا
ورته وایي. چه د خدایې کلام
خو د په تاسو کښې نشته. بې شکه
کتاب مقدس هرځت ستاسو په
لاس کښې دي. هروخت کتاب لولئ
سبق په سبق یې وایئ. خو هغه
فایده په کښې نشته. ولې چه
تاسو د قصد نه غواړئ چه
هغه کس قبول کړئ. چه

۶۰ ضرور دي او لوی دي د
د هغه کیږي. او تر ابده پورې دي
و جهه هم دا ده. ولې هیڅوک
دا نه غواړي. چه د خپل قدر یا
د خپل حالات [illegible] بې عزته
شي. له خدایه سره د دومره مینه
هم نه لري چه د [illegible] خاطر د
هغه د پاره بې عزتي [illegible] کړي.
او د غم و کړي.

تاسو ما نهٔ قبلوئ خو که څوک بل
په خپل نوم راشي قبول به يې کړئ په ول
44 تاسو څه رنګه شئ بيا ايمان راوړلي
چه له يو بل نه عزت غواړئ بناغلي
او هغه عزت چه دَ واحد خدائ
له طرف دي هغه نهٔ غواړئ يو ځائ
45 ګمان مه کوئ چه زهٔ به تر خپل پلار ره
وکړم ستاسو شکايت. دَ دي دَ پاره
يو کس شته چه ستاسو کاندِ شکايت
دي موسیٰ چه پرِ اميد مُو دي هرساعت
46 وجهه دا. که په موسیٰ مُو يقين کړلي
نو بيا هم به مُو په ما يقين لرلي
هغه هم وکړه کلام په حق ځما
47 و ليکن که دَ هغهٔ په کلام بيا

دلته دَ حضرت موسیٰ علیه السلام معلومیږي چه پاک ارشاد کتاب ته اشاره کوي. ۱۸ باب هلته بیان دی چه غیر خلق مخصوصیان او جادوګران ساتي، او دَ هغوی منلو ته بني اسرائیل لازمي نه کوي. ولي ... دي ... پیدا کوي. چه دي بلکه دَ موسیٰ کلیم الله نشان دی. چه هغه ... خدای یې ... تاسو ... او دَ هغه کلام تاسو وانه غئ. او ... واوريي ... کلیم الله په ... نشان کلمة الله ... زه ... کلیم الله ... هغه ... دَ پیغمبر ... لږ دي ... وخت ... ورسره ... دَ دي ... راوړي ... انسانانو ته ... شي ... پیدا شي ... دَ لاسي ... او دا هغه

۶۱

دَ کلمة یعني کلمة الله لکه چه ... یعني که دَ کلیم الله کلام حقیقي ثابت شه ... دَ پیغمبر په نبوت یقین وي نو کلمة الله هم ایمان راوړي ... په خود دَ تورات شریف ... ډیل چه ... خبري ... یه ذات کښي ختم شوي.

چه لیکلي دي خود نهٔ کوي یقین
و به کړي یقین ځما په قول کوم حین؟

شپږم باب

پس له دي نه دَګلیل دریاب ته بیا 1
یعني تبریاس ته پوري وت عیسیٰ
ګڼړ اولس شهٔ څکه دهٔ پسي روان 2
چه هغوي نښي لیدلي په هران
چه به ئ په رنځورانو ښکاره کړلي
نو عیسیٰ مسیح يو غرهٔ ته وړ ختلي 3
مُریدانو سره هلته کښیناستهٔ
دَ یهود اختر دَ فسح نژدي وهٔ 4
خپلي سترګي ئ کړي پورته وئ لیدل 5
چه ګڼړ خلق ما څنه راجع شول
وئ وِ فلپس ته موږ به دوي دَ پاره
خوراک واخلو له کوم ځائ نه اوس لواړه

٦ مګر دا يې پر د ازمیښت کلام وکه
څکه چه هغه پخپله پوهیده
٧ چه به څه کوم. فلپس ورکړ جواب
چه د سلو روپو خوراک به په حساب
دومره هم نه شي پوره چه تر هر یو
څه نه څه خوراک د پاره شي ملاو
٨ د هغه له مریدانو نه یو کس
یعني اندریاس ورور د شمعون پطرس
٩ ورته وویل دي دلته یو هلک
د اوربوشو شته پنځه روډي بې شک
ور څخه دي هم ورکوټي دوه کبان
خو په دي د دومره خلقو څه شي توان
١٠ عیسی وویل چه خلق کښېنوي
شنه واښه ډیر وو هر خوا په هغه ځای
پنځه زره (٥٠٠٠) کسان وو. ټول کښېناستل
١١ عیسی هغه روډي واخستي یو ځل

چه يُ شکر پرِ وکړ په هغوي بيا
چه ناست وُو هغهُ تقسيم کړلي هر خوا
او هم هسي شان کبان يُ وويشل
چه هغوي څومره غوښتل نهُ ورکول
چه ماړه شوُ مريدانو ته يُ ويل 12
پاتي شوي ټکړي کړيُ ټولي مکمل
چه برباد ي نه شي نويُ راجمع کړلي 13
له هغه ټکړونه شکوُ دولس ډکي شولي
دا له هغي پنځو ډوډونه پاتي شولي
چه خوړونکو په خوښيُ تر وخوړلي
او چه خلقو هغه نښه وليدله 14
چه عيسیٰ په دي مقام کښ ښکاره کړله
دوي ويل دا په ريښتيا هغه نبيؑ دي
چه دنيا کښ ضرور دي راتلونکي دي

۶۴

15 چه عیسیٰ پهٔ دې شه پوه چه دوئ راځي
نور مِ نیسي په زور ما بادشاه کوي
لاړ یواځي غرهٔ ته وخوت هغهٔ ان
16 بیا چه شه ښام دَ ده ټول مُریدان
دَ دریاب غاړې ته ښکته ورکوز شول
17 وختل بیړۍ ته پورې غاړه تلل
خیال دَ دوئ کفرنخوم ته اماده وه
تیاره شوه خو عیسیٰ لا راغلي نهٔ وه
18 چپې پورته شوې په وجه دَ تَخلي
19 چه دوئ بوتله درې څلور میله بیړۍ
ولید دوئ چه عیسیٰ گرزي په دریاب
او بیړۍ ته نژدې کیږي په شتاب
20 ویره راغله پرې. عیسیٰ ورته ویل
چه زهٔ یمه. ویره مه کوئ بالکل
21 دوئ راضي شو. وې خیژوه بیړۍ ته بیا
یو دم راغله دوئ نژدې دَ مُدعا

22 بله ورځ هغه مخلوق چه دَ دریاب
پوري غاړي ته وه جمع بی حساب
ولیدل دا چه بي له یوي کشتيُ
بله نشته. عیسیٰ هم نشته دا ځايُ
مُریدانو سره نهٔ وه تلي عیسیٰ
مُریدان بواځي تلي وُو یو خوا
23 خو کشتيُ له تبریاس ځني بی شک
هغه ځائ ته راتلي چرته چه مالکِ
پس له شکر نه ډوډيُ ورو ویشلي
اوچه خلقو په بنادئ سره وخوړلي
24 مخلوقات چه ولیدل چه نهٔ عیسیٰ
دلته شته. نهٔ يُ مریدان شته په یو خوا
په عیسیٰ پسي کشتو کښي کښینا ستل
په لټون کفرنحوم ؤ ته راغلل
25 دَ دریاب په پوري غاړي يُ بیاموندهٔ
ور ته يُ وِ استاذه دلته راغلي څه؟

26 عیسیٰ دوئ ته په جواب کښ ووېل
رښتیا تاسو ته وایم مکمل
تاسو ما نهٔ لټوئ په دې سبب
چه مُوږ ولیدلې نښې د مطلب
بلکې ځکه چه دو دې مو وخوړله
او په ښه شانِ ماړه شوئ له یو ځله
27 دَ فانې خوراک دَ پاره خوارې مه کوئ
خو دیر خیال هغه خوراک دَ پاره وکړئ
چه دَ تل ژوندون دَ پاره پاتې شي
او هغه به اِبنِ آدم در کوي
ولې چه پلار یعنې خدائ په هغه باندِ
دې خپل مهر لګولې ورستو وړاندِ

28 هغوي څکه ورته دوئيل وکړو
چه دَ خداي کارونه موږ وکړي شو
29 عيسیٰ ووئيل دا کار دي دَ رحمان
په ليږلي شوي دَ هغه راوړئ ايمان
30 هغوئ ووئيل څه نښي ښايئي ته
چه ايمان در باندِ راوړو څه کار کوئي ته
31 پلار نيکونو مؤمن خوړ په بيابان
لکه چه ليکلي دي په هسی شان
له اسمان نه به ئي د خوراک دَ پاره
ډوډئ دوئ له ورکوله بې تکراره
32 عيسیٰ وِ ورته رښتيا وايم. دا ان
موسیٰ نه وه چه ډوډئ ئي له اسمان
درکوله. خو زما پلار هغه حقّی
او اسماني خوراک درله درکوي
33 دا دَ خداي ډوډئ ده چه له پاس راځي
او دنيا ته حقيقي ژوندون بخښي

27 د بني اسرائيلو عام خيال وه چه نجات په عمل باندې موقوف دي. خلکه دا پوښتنه وکړه چه څه کار وکړو. عيسیٰ مسيح خلکه دا جواب ورکوي چه اصلي کار دا دي چه د خداي په مقرر شوي کس ايمان ولري. خيرات زکوة يا لمينه يا نور د مذهب کارونه دي. د خداي څخه اصول کار نه دي مګر که څوک اصلي

28 ايمان راوړه دي چه بيشکه خداي هم هغه سړي دي چه د نجات د پاره جوړ هغه يوه لار دي. يا د مسيح قايل او فرمانبرداري د ايمان نتيجه ده او نه چه بغيله ايمان دي.

34 دوئ ورته ووې چه اې صاحب مجیب
مدام مونږ له راکړه دا خوراک عجیب
35 عیسیٰ ووې د ژوندون ډوډۍ زه یم
څوک چه ما له راځي دا ورته وایم
هیڅوک به وږي نه شي او په ما
چه ایمان راوړي. به تږي نه شي بیا
36 خو زه وایم چه تاسو زه لیدلي یم
خو ایمان را باندې نه راوړئ بیا هم
37 چه هر څه ځما پلار ما له راکوي
په ټه شان به هغه ټول ما له راځي
چه هر څوک ما له راځي زه به يې هم
هیڅوک له خپل ځان نه ونه شړم

38 دلي چه زهٔ له اسمان نه راکوز شوم
نهٔ چه په خپلي رضا عمل کوم
خو عمل کوم دَ هغهٔ په رضا
چه يُ زهٔ راواستولم په دنيا
39 دهٔ ثما دَ راستونکي دا رضا
چه هرڅه يُ ماله راکړل تر نه بيا
هيڅ يو څيز ورک نهٔ شي بلکي په يودم
په اخره ورځ به يُ بيا ژوندي کوم
40 څکه هم ثما دَ پلار رضا دهٔ دا
چه هرڅوک ځويُ ووينى او په ربنتيا
په هغهٔ راوړي ايمان دَ تل ژوندون
دي به بيا مومي او زهٔ به يُ په مضمون
په اخره ورځ. بيا ژوندي کوم
41 يهود دَ هغي په وجهي باندي هم
خپه شوُ چه يُ ويلي وُهسي شان
نهٔ ډوډيُ يم راکوز شوي له اسمان

42 وئي وِ عیسیٰ دَ یوسف ځوئي څه دانه دي
مور او پلار يي مونږ ه پیژنو نو څه دي
څنګه وایي چه له اسمانه شوم راکوز
43 عیسیٰ دوي له جواب ورکړ په رموز
په خپل مینځ کښ مه بروړېږئ دا زمان
44 هیڅوک ماله را تلي نه شي په هیڅ شان
بي له دي ځني چه پلار ئي را کاږي
پس هم هغه کس به ماله راځي
په اخره ورځ به يې زه ژوندي کوم
45 صحیفو کښ دَ نبیانو دي دا هم
چه هغوي ټول به له خدايُ تعلیم اخلي
چه هرچا له پلار نه اوریدلي دي
او زده کړي دي. هغه ماله راځي
46 دا سي نه دي چه چا پلار لیدلي وي
بي له هغهُ چه دَ خدايُ له لوري راغي
هم هغه ځنبله پلار لیدلي دي

٤٢
حقیقي خلق دا خیال کړي
کوي چه په عیسایت کښي
تول تاکید په لفظي ځوي دي. او چه
د عیسایانو دا عقیده ده چه انسان
نشي په دي لفظ د خدای په ذات کښ
شامل کیدای نشي. مګر دا خیال غلط
دي. هم په د ځوي له لفظ ه
انجیل شریف په هر ځای دا خبره
ثابتوي. چه عیسی الله خپل شان
خدای ذات کښ شامل
بیتي نده هغه په شکله

٤٥
خدای نه ذات
مالک دیلي شته که هغه له
را هغه نه راو بي راغلي نه وي
ما نه چیچا خدای لیدلي شته چه بي له
هغه په ځلکه ویلي شته چه ذات د
ژوندون دو لري له اسمان د
راکوز شوی یم

47 وايم رښتيا رښتيا چه څوک ايمان راوړي
هم هغه کس دَ هميش ژوندون لري
48 وايم چه دَ ژوندون ډوډۍ يمه زه
49 پلار نيکونو مو ځنګل کښ من خوړه
50 مړه شو. دا هغه ډوډۍ ده چه له پاس
راځي. دي دَ پاره څوک چه وخوري خاص
51 مړنه شي. زه يم هغه دَ ژوندون ډوډۍ
چه را کوزه له اسمان شوه په دې ځائ
او که څوک چرې له دې ډوډۍ وخوري
نو به تل تر تله هغه ژوندي وي
کوم خوراک چه ورکوم زه تر دنيا
دَ ژوندون دَ پاره. ده جثه ځما
52 څکه په خپل مينځ کښ بيا دا يهوديان
په جګړه شو. دائ وويل هسې شان
دا سړې خپله جثه خوراک دَ پاره
راکولي څنګه شي له دې ګفتاره

53 نو عیسیٰ وِ ربښتیا تاسو ته وایم
چه څو و نه خوري جثه دَ ابنِ آدم
او دَ هغهٔ وینه تاسو و نه څښئ
چِل ځان کښ به څو ژوندون و نه لرئ
54 څوک چه خوري څما جُثه وینه مِ څښي
نو هم هغه دَ همیش ژوندون لري
په آخره ورځ به لئ زه ژوندي کړمَ بیا
55 ولي دي ربښتین خوراک جُثه څما
او ربښتني څښاک هم دي څما وینه
56 چه څوک خوري څما جُثه وینه مِ څښینه
هغه ما کښ زهٔ هغهٔ کښ یم قائِم
57 لکه چه ژوندي پلار را واستولم
او دَ پلار په وجهي یم ژوندي داشان
څوک چه ما خوري ژوند لري څما په توان
58 دا هغه ډوډئ ده چه خاص له آسمان
شوه را کوزه. نهٔ دَ هغه من په شان

پلار نیکونو مو چه وخوړلو مړه شول
خو چه څوک دا ډوډۍ خوري ژوندي دي تل
59 دا کلام یې کفرنحوم کښې وکړلو
په جماعت کښې چه تعلیم یې ورکولو
60 چه هغوئ دغه خبرې واوریدې
د هغه له مریدانو څنو وې
دې ډیر سخت کلام څوک داشي اوریدلي
61 ولیکن عیسیٰ په زړه کښې پوه شه غلي
چه په دې باب مې بړبړي مریدان
نو یې دوئ ته داسې ووې هغه آن
چه په دې خبرو تاسو تیندک خورئ
62 څنګه که ابن آدم تاسو وو وینئ
چه هغه بیا هغه ځای ته وخیژي
چرته چه هغه ړومبي وه واقعي
63 روح هغه دي چه همیش ژوندي کوي
جسم په هیڅ شان فایده هیڅ نه لري

۷۳ الم کله روحاني جهان او جسماني جهان یو نه دي خو پیا د دواړو ژبه یوه ده او هغه ژبه په دنیاوي خبرو چلیږي ځکه هر کله چه انسان د روحاني جهان ته وګوري هغه مجبور یږي چه هم هغه دنیاوي الفاظ استعمال کړي سره د دې چه مطلب بل دی. مثلاً عیسیٰ مسیح خپل ځان ته لاره حق ژوندون او ډیوه وایي. د نړۍ رڼا.

۷۴ شپون. دروازه. قیامت. کلام. ژوند او ډیوه. مختلف مضمونونه وایي. دا الفاظ په ډول دنیاوي دي. مګر د کلمة الله چه روحاني مطلب په انسان هاله پوه شي معلومیږي چه دا ټول الفاظ واضح شي. بې کفاره ته اشارت کوي.

څه خبري چه ما وکړي په مضمون
هغه هم روح دي هم دي هغه ژوندون
64 څني تاسو کښې شته نهٔ راوړئ ایمان
ولي چه عیسیٰ اول پوه وه بنه شان
څوک څوک دي چه ایمان په مانه راوړي
کوم یو کس دي چه به ما حواله کړي
65 دَئ وِ اوس ما څکه وکړ دا بیان
چه هیڅوک ماله را تلي نهٔ شي هیڅ شان
چه ترڅو وله طاقت ور نه کړي پلار
66 مریدان ډیر دَ مسیح په دي ګفتار
له هغهٔ نه نور په بیرته ددلا رل
پس له دي بیا ورسره نه ګرزیدل
67 عیسیٰ څکه هغه دولسو ته وویل
تاسو هم غواړئ دَ دویٔ په شانِ تلل؟
68 نو شمعون پطرس بیا وویل په جواب
چا نخه به لاړ شو مونږه ائ جناب

دَهمیش دَ ژوند کلام دي تا څخه
69 مونږ ایمان راوړلي دي پوهه یُوښه
تهٔ دَ حق تعالیٰ قدوس بیي ای مسیح
70 عیسیٰ ورکړوله دا جواب صحیح
تاسو دولس نه یئي غوره کړي ما؟
خو په تاسو کښ یو کس شیطان دي بیا
71 دا خبره یې وکړله دَ یهودا
څويُ دَ شمعون اسکریوطي وه رښتیا
ولي دا کس یو په دولسو کښ وهٔ
چه مسیح یې ورستو په حواله کهٔ

اووم باب

1 پس له دي عیسیٰ ګلیل کښ ګرزیدهٔ
یهودیه کښ ګرزیدل یې نه غوښتهٔ
وجهه دا چه یهودیانو په تفتیش
دَ هنهٔ قتل پسي کاوه کوشش

۷۶

له حکومت دي دوه وو علاقو کښ یعني
وچه په ګلیل کښ یو ورکوټي
بادشاه ناست وه، هم په یهودیه
کښ د روم د بادشاه خاص ملکي
صاحبت وه. هم په یهودیه کښ د
بني اسرائیلو لویه زور وه، هم
وو، چه ګلیل کښ غیر خلق
د یانه په عیسیٰ مسیح ته ورته
ګلیل کښ پاتي شه.

2 وه بیا نژدې یو اختر دَ یهودیانو
چه په نوم مشهور اختر وه دَ تمبوانو
3 دَ عیسیٰ ورونړو ځکه ورته وویل
له دې ځایه ستا یهودیه ته بنایي تلل
چه هم ووینې ستا واړه مریدان
ټول کارونه چه لې ته کړې وا زمان
4 ولې هیڅوک کار په پټه نه کوي
که دا غواړي چه هم خپل ځان څرګند کړي
که ته دا کارونه کړې نو بیا خپل ځان
په دنیا باندې ښکاره کړه په ښه شان

[illegible] اول مطلب [illegible]

[illegible] دوهم مطلب [illegible]

[illegible]

5 ولي چه دَ هغه خپلو ورنړوهم
پر ایمان راوړي نه وه تر دي دم
6 عیسیٰ وِ نه دي راغلي زما وقت شما
لیکن ستاسو هر وقت وقت دي په رښتیا
7 کینه تاسو سره کړي نه شِي دنیا
خو کینه له ما سره کړي په هرځوا
ولي چه زه شهادت پرِ ورکوم
چه کارونه دَ هغې بد دي هردم
8 تاسو لاړ شئ دي اختر ته خو زه لا
ورتلي نه شم پوره وقت نه دي زما
9 او چه دا خبري ئې وکړي ورسره
نو شه پاتي په ګلیل کښې دوباره
10 خو چه ورونړ ئې ورانِدِ لاړل په اختر
عیسیٰ هم په پټه لاړ نه په اظهر
11 یهود ځکه په اختر کښې لټوهٔ
په خپل مینځ کښې ئې ویل هغه څه شهٔ

ح ۱ اگرکه دَ عیسیٰ مسیح ورو ورو ایمان نه راوړلو خو ورو ورو ستو ایمان راوړن شو. او دَ هغهٔ دَ پیرو ورو دے په حق کښې دومره معلومیږي. چه هغهٔ په بیت المقدس کښې دَ عیسایانو په مجلس کښې خاص مشر شهٔ. او چه هغهٔ هم دَ دي ایمان دَ صداقت دَ اظهار دَ پاره دَ شهادت جام نوش کړو

ح ۲ دلته دا مطلب نه

۷۸

دي چه کلمهٔ الله به پټه [illegible] شان به پټه لاړه چه هیڅ به معلوم نه وهٔ. ولي چه هیڅ کښې صفا لیکلي دي چه هغه په بیت الله کښې ښکاره ست او تعلیم ئي ورکاوه. خلقو دا خیال کاوهٔ چه هغه به په [illegible] رانړي. او خپل شان به [illegible] مگر پاک عیسیٰ دَ عاجزۍ په طور [illegible] هغه بادشاهي دَ دي دنیا نه وه. ځکه هم دَ دي دنیا [illegible] دَ هغه نه وه [illegible]

12 په دي مخلوقات کښ دَ هغهٔ په باب
په اقسام کیدي خبري په اسباب
چا به وِ. چه هغه نیک دي ضروري
چا به وِ. نهٔ. بلکې خلق غلوي
13 دَ یهودیانو له ویري نه هیچا
په ښکاره خبري کړي نهٔ شوي یو خوا
14 بیا په مینځ کښ دَ اختر تربیت الله
عیسیٰ لاړ شه ورکاوه ئې تعلیم هر خوا
15 یهودیان څکه په دي شو حیران
دي اُمي دي په تعلیم لا پوهیږي څه شان
16 په جواب کښ ورته وویل عیسیٰ
دا تعلیم نهٔ دي څما مګر چه چا
زهٔ را واستولم دي دَ هغهٔ تعلیم
17 که څوک غواړي چه ئې کړي رضا تسلیم
نو به ورته دا معلوم شي په رښتیا
چه دي دا تعلیم په اصل کښ دَ چا

لم اګر که کلمة الله په دنیا وي
د بل بي سره د ده نړۍ ځ د هغهٔ
عِلم او تعلیم داسي وه چه د هغهٔ
و سلیکي هغه خلقو ته ظاهر شهٔ
بیه مشتلقو شاید وکنبي چه
بلکې په عجیب شریف کنب دا مشهوره
دا نقیبن دا چه خلق

٧٩

دُ کلمة الله تعلیم
نه حیران شو. او د هغوی
په زده و نو داسي ولګیده چه
هغوي د شان نه ومنله چه
هغهٔ صاحب اختیار دي. چه
څنګه په دي نوم کلمة الله او
مشهور دي.

يعني كه له لوړي دخدايَ دي دا
ياكه زهٔ هغه له ځان نه وايم بيا
۱۸ ځوک چه خپل كلام كړي غواړي خپل عزت
ليكن ځوك چه دَهغه غواړي عظمت
چه يُې استولي دي هغه رښتين دي
په هغهٔ كښ بي انصافي نشته يقين دي
موسىٰ نهٔ دي تورات تاسوله دركړي؟
۱۹ خو په تاسوكښ چا دي عمل پرِ كړي
څله دَ مرګ كوشش تاسوكړيُ ځما؟
۲۰ مخلوقات وله جواب وركړلو بيا
چه په تا كښ دي بدروح څوک كوشش كړي
چه په څه شان سره تا قتل كوِي

سله انسان اكثر دخدايُ په حق كښې تعليم جوړه وي. ياهر كله چه خدايُ دَانسان په ژبه كښې يو نوې كاروا مي وكړي چه دَانسان تعليم پرِ غلط بنكاريږي. نوانسان هغه كار ته غلط وايي او خپل جوړه شوي تعليم قايميږي. بني اسرائيلو كښې دا تعليم قايم شوي وهٔ. خدايُ يو واحد خدايُ دي. مګر دَ يو والي مطلب اوبيان هغوي له ځان نه جوړه كړي وو. او په دي جوړه كړي بيان هم ټينګ وو. بيا خدايُ دَهغوي په منځ كښ يو كس پيدا كړو چه هغوي په هرڅه شان سره ورته حيران شو. ولي چه دَ هغه پيدايښت. ژوندون. تعليم. طاقت كاروه. هرڅه بل شان وو. هم سره دَدي چه خدايُ

دا يوكس ليږلي وهٔ هغوي هم دغه كس رد كړو او خپل تعليم ئې قايم كړه. له دي نه دا معلوميږي چه هغوي دا خيال نهٔ كاوه چه دَ خدايُ رضا او رښتيا څه ده. مګر دا يې نيت وهٔ چه ځان ته شايي پاتي شي. مګر كوم كلام چه تعليم به عيسىٰ مسيح ورته وكړه هغه هميشه ماتك عيسىٰ يعني كه ځوک دَانسانا دَ تعليم په ځاي كښ پريږدي يا اوتش دَ خدايُ تعالىٰ او بيان چيږي دي ياد خدايُ هم دَ دغه مرضي غواړي پيدا كوي. چه دَ

[illegible]

۲۱ عیسیٰ ور کړلو جواب په هسي شان
ما یو کار وکړ یئ تاسو ټول حیران
۲۲ دَ موسیٰ له لاس حکم دَ سُنت
تاسو ته ورسیدلو بې مهلت
خو دا حکم هم خاص نه وه دَ موسیٰ
ویکن پلرونو نه راغی په خوا
دَ سبت په ورځ نور شي سُنت انسان
۲۳ نو چه تاسو کړئ سُنت سړي هر شان
دَ سَبت په ورځې هم په دې سبب
دَ موسیٰ قانون قایم شي په مطلب
ولي ما و ته قهریږئ ورستو وړاندي
چه پوره سړي مې جوړ کړ سبت باندې؟
۲۴ فیصله مه کړئ دَ صورت په مطابق
خو فیصله کړئ دَ انصاف په موافق
۲۵ ځني خلق چه وُو دَ بیت المقدس
هغوئ خپل مینځ کښ داوُو کس تر کس

۲۲ په بني اسرائیلو کښ دا قانون دَ شریعت نه وړمبې جاري شوی وو چې دَ هلکانو سنت به اتمه ورځ کېدو. یعنې ابراهیم خلیل الله ته دَ سنت حکم ورکړې شوی وو. بیا په شریعت کښ هم داخل کړې شو. دَ سبت په ورځ هیڅ کار دَ کولو نه و. او دَ یهودیانو وروستو عالمانو دا فیصله وکړه

۲۳ دَ سبت سنت ورځ دَ هلک چه اتمه ورځ جوړي. وهلی شي. هم دَ سبت نو دَ هم جواب دا مطلب دی چې دَ سبت مالک عیسیٰ دَ هغه ورځ دَ انسان دَ وجود لیري چه کله زخم په ورځ روغول خه منع دي. ولې مانه دې

دا هغه نه دي چه يې دوئ کوښش کوي
چه په هر ممکن سبب يې ووژني ؟
26 کوروئ دي اوس په ښکاره خبري کړي
او هم هيڅوک ورته هيڅ عذر نه کوي
یا دوئ پوه دي چه هم دغه دي مسیح ؟
27 خو دي پيژنو چه له کومه راځي
ولیکن مسیح چه راشي کوم زمان
دَ هغه ځائ به نه پيژني انسان
28 عیسیٰ ځکه نور په بیت الله کښ بیا
ورکاوه په لوړ آواز تعلیم رښتیا
تاسو ما پيژني هم دَکوم ځائ یم
خو له خپل ځان نه راغلي زه نه یم
لیکن چا چه راستولي یم رښتین دي
خوئ نه پيژني تاسو دا یقین دي
29 زه يې پيژنم دَ هغه له لوري یم
ولي چه هغه زه راستولي یم

۱) چه یهودیانو ته دا هم معلومیږي
کښې ته دي خاپي
ورو. چه مسیح د نبوت دا معلوم
ده عام مېږي نه وه عمر چه موافق
قدرتي طور به ته دنیا کښې ته راځي
هلته چرته به ته چه دیکلي دي
شیطان ته مالک عیسیٰ چه
پاتې ازمینت کړي دا
هم راځي چه شیطان خبره
واپس چه دَ بیت الله ورته

له مناري ته خپل
ځان ښکته ګذار کړه. هلته
هم دغه مطلب دي چه بیا
خلق تا منبې ولې چه ځوي
به دا ته راغلي ته وینې چه له ګوره
ځائ ته خلقو به ځي. مسیح خدای
خپل پار دَ خلقو به حیرانتیا
چه کار ته کړي. هغه دنیا
خپل قوت او خپلي منبي
ځان ته راکاږي.

30 هغوي څکه دَ نیوه کوشش کاوه
خو هیڅا په هغه لاس وا نهُ چوه
لاییُ وقتُ راغلي نهُٔ وه نو څکه
31 ولیکن له مخلوقات ډیرو په کلکه
پرِ ایمان راوړ او وِیُ چه هرکله
چه مسیح راشي له دي نه زیات یو څله
به څه؟ موبز و ته ظاهر کړي معجزات؟
32 فریسیانو واورېدل چه مخلوقات
دَ هغهُ په باب دارنګ خبري کړي
کاهنانو. فریسیانو سمدستیِ
افسران ور واستول چه ولیُ نیسي
33 عیسیٰ وُوِ لېږي ورځي پاتي دِي
چه یم تاسو څخه بیا هغهُ له ځم
چه لیُ زهِ دي ځایُ ته راولیږ. لم
34 ما به ګوریُ خو به یِم بیا نهُ مومئي
چه ځم چرته هلته هم راتلي نهُ شيُ

35 يهوديانو نَر يو بل ځکه ويل
چه به ئې نه مومو کوم خوا ته ځي داخل
په يونان کښې خوارۀ شويو ته به ځي؟
يونانيانو له به تعليم ورکوي؟
36 څه خبري دي چه ده راته وکړلي
چه به کوري ماخو نه شي به موند لي
چه ځم چرته راتلي هم نۀ شي هلته
37 بيا اخير چه لويه ورځ دَ اختر وه
عيسىٰ وه ولاړ په زوره ئې ووِ دا
چه څوک تږي وي نو راد شي نزما
38 و دِ څښي، که څوک په مايمان راوړي
پاک کتاب کښې چه څه رنګ ليکلي دي
دَ هغۀ له ځانَ به نور دَ ژوندون
دَ اوبو سيندونه بهيږي په مضمون
39 خو دائې و ويل دَ هغه روح په باب
چه راتلونکي وه په خلقو په شتاب

له کلمة الله
دلته دَ چخل هرگز او
يا ژوندي کيان لو او اسمان
ته ختلو به حق کښې اشارت
ورکوي هکو خلق دا خيال کوي
چه هغه به شايد يهوديه موبه
پيږي دي او په هغه يهودياند
پسي به سرگزي چه دنيا کښې
خواره وارځ دي په يونان کښې
دا سي يهوديان لوبر وو
او په بيت المقدس

کښې خلقو دا خيال
کاوه چه مالک عيسىٰ مسيح
به داسي و نه کړي چه خواره
هم ځي يهوديان دي به ورکوي
شي يهوديانو ته تعليم ورکوي
او به يونانيانو ته به تبليغ
کوي، د دوي اشارات
خلق نه پوهيدل چه
هغوي ته پر يقين وجهه دا چه
چې عقل به يې نوي وه
چه خلطيدل.

چه ايمان يُ په عيسىٰ راوړي وهٔ
ولې چه روح لا تر دې نازل نهٔ شهٔ
سبب دا دې چه تر دې پورې عيسىٰ
خپل جلال ته رسيدلې نهٔ وه بيا
٤٠ له مخلوق چه څنو واوريد دا بيان
وِيُ رښتيا دا دې هغه نبي ذى شان
41 څنو وِ مسيح دې. چا وِ غلط دِې
وِيُ څرنګ به له ګليل مسيح راځي؟
42 پاک کتاب کښ څه دا رنګ ليک نهٔ دِې؟
چه مسيح به دَ داوُد له نسله وِي
او دَ بيت الحم کلي نه راځي
چه داوُد اوسيده چرته واقِع

43 ځکه دَ هغه په وجهي شخه آن
اولس شه بي اتفاقه په گمان
44 ځنو تر دا وغوښتل چه ولې نیسي
خو هیچا لاس وریو نهٔ ور سمدستي
45 کاهنانو فریسیانو له په بیر ته
افسران راغلل هغوئ وویل ورته
تاسو ولي هَغه کس را نهٔ ویستلو
46 افسرانو دا جواب وله ورکړلو
گوريُ چا بني آدم دا رنګ خبري
47 لا تراوسَ پوري کړي نه دي چرې
فریسیانو ځکه ورکړ دا جواب
تاسو گمراه شوي هم یئ په دي باب؟
48 په مشرانو یا فریسیانو کښ چا
په هغهٔ ایمان راوړي دي څه یو خوا؟
49 دا عوام چه نهٔ پوهېږي په تورات
همګي دِي لعنتیان په واقعات

۸۶
بیا په دې ځای کښې داسې واقعه لره چه خلق دَ کلمة الله کلام ته او تعلیم ته حیران شي او قابل نه ؤ. هکو کلمة الله هم چه خپل قوم په موافق هر څه دَ خدای په کلام پوهېدل دي. یعنې په علم او دَ کلام په محبت پخپله دَ هغه چه عقل ... خلقو ... دا هم ځکه نه دي

عیسیٰ مسیح دَ پېر هوښیار دي یا تعلیم یافته یا تجربه کار دي لکه چه زده کړه خلقو صفت کېږي. هم حیران شو. او وېلې چه دا دَ اختیار خاوند دي. دا یې لکه کلام چرې نشوې نه دي لکه هغه کوي پر مسیح ښکیله وي. چه کلام او تعلیم دَ خدای دی. که څوک دَ خدای په مرضۍ کړو خوشاله وي. هغه به هم په حقیقت پوه شي.

50 نیکدیمس چه رومبي هم وه راغلي
وه په دوی کښ یوکس. ورلی کړ جواب ښکلی
51 چه څمونږه شریعت ترهغي پوري
څوک مجرم کولي شي څه چه څو پوري
دَهغهٔ له خپلي خولي نه وانهٔ وري
اوپوه نهٔ شي چه هغه څه کار کوي
52 هغوي ورکړلو جواب ورته يُ ویل
چه تهٔ هم دَ ګلیل يُ بي تحمل
وګوره. ولټوه چه یو نبي
له ګلیل څني به بالکل نه راځي

اتم باب

1 هر یو خپل خپل کورته لاړشه خو عیسیٰ
کَ زیتون غرهٔ وته وخوت په یو خوا
2 او په بله ورځ په لوی سحر کښ بیا
بیت الله کښ شه داخل مسیح عیسیٰ

له ۴۰ چه د دریم باب ۲۱ کښ د دی
سره یې پوره بیان راغلیم دی دلته
معلومیږي چه هغه د کلمة الله
د پاره د انصاف کوشش
کوي. او په ۱۹ باب

٨٧

کښ ۳۹ آیت د
جنازه کښ د یارلو نیکلی دی. چه هغه
کوي. نیکدیمس مسیح ډیر عزت
نه یادیږي. شکه په نبوت کښ
کښ چه ... خوګړنده جلیل
د کلمة الله په جلیل
صفا په خپل ایشت
په نبوت وه چه د ګلیل
کښ راغلی یو دی.

راغلل ټول خلق او هغه کښیناسته
او تعلیم ئې بیا هغوي له ورکاوه
3 کاتبانو فریسیانو بیا مګر
یوه ښځه راوستله برابر
په زنا کښې هغه ونیولي شوله
چه په خپل منځ کښې ئې هغه اودروله
4 وئې استاذه چه دي ښځي کوم ساعت
زنا کوله ونیوي شوه په سرعت
5 تورېت وایي چه داسي دِ شي سنګسار
خو ته څه وایي؟ کړو مونږ ستا انتظار
6 ویکن هغوي دا خبره له واره
وکړله دَ هغهٔ دَ ازمیښت دَ پاره
چه په څه وجهه پرِ ولګي الزام
خو عیسیٰ زمکي ته ټیټ شه په قیام
7 او په ګوته ئې په زمکه څه لیکل
چه هغوي بیا بیا له دهٔ څخني پوښتل

راځ د فریسیانو شیطاني حیله دلته صفا ښکاریږي د موسیٰ تورېت وایي چه څوک مېړه د زنا کښې ونیول شي نو د قتل حکم پکار دی. ځکه چه د رومیان په بني اسرائیلو زورلاور شو. نو هغوي به لاس کښې د قتل حکم ساتي ... او هغوی د زنا د پاره ... سره د قتل حکم ... مالک عیسیٰ ... شان ...

۸۸

که ... دی شاني کښې دا جواب ورکړي وي. چه قتل د ... نو فریسیانو به د رومیانو نه ... شو چه هغه خلق لسوي او د قانونو پابند نه دي. مګر که ... ورکړي وي چه ... نو فریسیانو به عامو خلقو ته وېلي شو چه هغه د شریعت پابند نه دي. نو ... ورنه ... دایي ... جواب ورکړو ... کله چه ... بند ه شوه.

او دریں نیغ اوځ یُ وارَوه یو ځوا
وِیُ چه له تاسوکوم کس وِیِ بي گناه
وله بشاییُ چه اول گزارکړِي کاڼړي
۸ بیا شه ټیټ او نور یُ لیکل په زمکي
۹ ولیکن چه هغوي داسي واوریدل
مشران اول بهر تِړ وو تل
تر اخره بیا یو یو تِړ نه لاړ شنه
او عیسیٰ هلته یواځي پاتي شنه
ښځه چه په مینځ کښ وَه ولاړه هم
۱۰ عیسیٰ نیغ اُو دریدہ۔ وِیُ وِ ښځه دم
ښځي۔ څه شوُ دوي ؟هیچا نه کړي مجرمه
۱۱ ښځي ورته وُوِ هیچا نهٔ صاحبه

عیسیٰ وِ چه زهٔ هم نهٔ مجرمومه تا
لاړ شه. ګناه چرې مهٔ کوه بیا
12 بیا هغوي سره وکړ کلام عیسیٰ
ورته يې وِ چه دَ دُنیایم زهٔ رڼا
نو هغه څوک چه په ما پسې راځي
په تیارهٔ کښې به هیڅرې نهٔ ګرځي
بلکې دَ ژوندون رڼا به دَ هغهٔ وي
13 فریسیانو څکه وِ سمدستي
دَ خپل ځان په حق شاهدي ورکړه تا
ولیکن ستا شاهدي نهٔ ده رښتیا
14 په جواب کښې عیسیٰ وول که زهٔ
دَ خپل ځان په حق شاهدي وکړمه څهٔ
خو ځما شاهدي رښتیا ده مقدم
زهٔ یم پوه چه له کوم ځایٔ راغلي یم
چرته ځم. خو تاسو نه پوهیږئ یو دم
چه زهٔ راغلم له کوم ځایٔ چرته به ځم

٩٠

له
چه مسیح عیسیٰ
دلته ځان ته دَ دنیا رڼا
وایي. نو مثال دَ اختر دَ رڼا
ته اخستي شوي دي. ځکه چه
باب کښې ۲ ایت کښې بیان راغلی دی
دَ بیت المقدس خلق په
[illegible] کښې هو ګاله چه دَ [illegible]
په [illegible] تیارهٔ کښې به [illegible]
[illegible] دي اختر کښې [illegible]
[illegible] چراغونه بلیدل
[illegible] په دنیا شته. چه [illegible]

په هغه اختر کښې هم
[illegible] الله کښې لالټینونه بلیدل
[illegible] وایي چه زهٔ
[illegible] راغلم او چرته ځم
هغه [illegible] دراسي خبري کوي چه عام
انسان نه شي کولي. ولې لوی
لوی پیغمبرانو هم داسې خبرې [illegible]
[illegible] دي. چه مونږ به هم پوهیږو
او دروستي حال عیسیٰ مسیح [illegible]
[illegible] او [illegible]

٩١

15 دَ جُثي پہ مطابق فیصله کويُ
خو دَ هیچا فیصله زهُ نه کړم یوځايُ
16 او که وکړمه فیصله. فیصله څما
درسته ده. ولي یواځې نه یم بیا
بلکې یو زهٔ یم او بل دي څما پلار
چه ئې زهٔ رالېږلم په دی کار
17 ستاسو شرع کښې دا هم لیکلي دِي
شهادت دَ دوو کسانو رښتین وِي
18 یو زهٔ یم چه کړم په خپل حق کښې شاهدي
بل مِ پلار دي چه څما شهادت کړي
19 هغوي څکه ورته وُوِ چه ستا پلار
دي کوم ځايُ. عیسیٰ دا وُوِ په گفتار
تاسو ما نه پیژنئ. نهٔ څما پلار
که زهٔ تاسو پیژندي نو په اعتبار
نو ربه پلار څما هم تاسو پیژندهٔ
20 چه تعلیم ئې بیت الله کښې ورکاوهٔ

دا خبري ئې خزانه کښې نورو کړلي
خو هيڅا هغه بيا هم نهٔ وه نيولي
21 ځکه چه دَ هغهٔ لا وقت نهٔ وه راغلي
هغه بيا ورته دا وکړ کلام ښکلي
زهٔ خو ځمه او تاسو به م بيا ګورئ
او په خپلو ګناهونو کښې به مرئ
چه زهٔ کوم مقام ته ځمه تاسو هلته
22 راتلی نهٔ شئ. يهوديانو خوله کړه بيرته
دي به ځان ووژني څه؟ چه وايي چرته
چه زهٔ ځم تلي نهٔ شئ تاسو هغه دَرته
23 او هغوي ته ئې بيا وويل له ځمه
تاسو يئ له ښکته- زه له پاسَ يمه
او هم دا چه تاسو يئ دَ دي دنيا
خو دَ دي دنيا زهٔ نهٔ يم په رښتيا
24 ځکه ما تاسو ته وکړ دا کلام
خپل ګناهونو کښې به مړه شئ تمام

که ایمان نهٔ راوړې چه زهٔ هغه یم
خپلو ګناهونو کښې به مرهٔ شئ هم
25 نو هغوي هغهٔ ته وُوِ ته څوک یې
عیسیٰ وِ زهٔ هغه یم چه هم وړمبې
تاسو ته ویلي دي ډیر په بنه شان ما
26 ستاسو حق کښ ډیري خبري شما
دَ وېنا او دَ فیصله شته په یقین
مګر چا چه واستولم دي رښتین
له هغهٔ چه اوریدلي مِ دي څهٔ
هغه خبري دنیا ته کـوم زهٔ
27 ویکن دوئ پوه نهٔ شوُ په هیڅ لار
چه دَ پلار په باب لې وکړ دا ګفتار
28 عیسیٰ بیا هغوي ته وُوِ هغه دم
کوم ساعت چه په لوړهِ ابن ادم

تاسو وخیژوئ پوه به شئ بنه شان
زهٔ هَغه یم او هیڅ نهٔ کړم له خپل ځان
څو خبري م هَغه شان کړي دِي
لکه پلار چه ما وته ښوولي دِي
۲۹ ما سره دي چا چه را واستو لم
زهٔ یوا ځي هم هغهٔ پرېښي نهٔ یم
ولي چه هَغه کار و نه کړم مدام
چه دَ هغهٔ بی شک خوښ دِي واتمام
30 چه څه وقت هغهٔ کاوه دَغه بیان
ډیرو خلقو په هغهٔ راوړَ ایمان
31 یهود یانو چه پرِ راوړي وه ایمان
عیسیٰ ور ته کلام وکړ په دي شان
که قایم شئ تاسو په کلام ځما
نو ځما مریدان یئ بیا په ربنتیا
32 نور به تاسو پوه شئ په حقیقت
حقیقت به موُ ازاد کړِي په سرعت

33 هغوی ورکړلو عیسیٰ له دا جواب
مونږ دَ ابراهیم نسل یو ای جناب
هیڅ چرې موږ کړي نهٔ دهٔ غلامي
وایې څنګه وبه مومې ازادي

34 عیسیٰ وِ وایم رښتیا چه هر انسان
چه ګناه کړي دګناه مریٔ دي هر شان

35 او غلام مُدام په کور نهٔ پاتی کیږي
ولیکن ځوئ همیشه کور کښې اوسیږي

36 که ځوئ تاسو ازاد کړي نو په رښتیا

37 به ازاد یئ. دهٔ معلومه ماته بیا
چه دَ ابراهیم له نسله تاسو یئ
تاسو خو کوشش کوئ چه مړم کړئ
ولیکن وجهه داده چه ځما کلام
په خپل زړه کښې تاسو نهٔ لرئ مُدام

سلم
دَ ازاد دي. به حق کښې به
منو دلار کتاب لیکلي پښتو کښې به
شوي دي چه وریته
دَ ازادۍ قانون
کیږي. خلق اکثر دا غلط خیال
کوي چه هغه کس ازاد
دي چه هر یو شی کولی شي. بلکه یا به
بچاره کولی شي. خیال نه کوي چه
زړه شیطان ملک ازاد دي یا که
فرض کړه چه تولي دي.
سړي وي او هغه دَ ملائ
غوالي دي. او وطن چه یو اخیږي
ازادي نه دي ترڅو چه افیم تر هغه
شیطان اصلیت کښې هغه دَ افیم
خوشحاله دي ترڅو صوبي نه
پوري خوشحاله دي. هغه دي
غلام دي نه خو چه شان ترڅو صوبي
دي غلامي کښې هغه دي
ازادي. په دي وایي. چه به وقت دَ
نه ازادي پیدا کړم. اصلي ازادي دَ
وخته افیم دَ پارهٔ دا وی چه افیم
هغه دَ په دا وخت نه ځان
په عادت

٩٥

چه انسان
دَ غیبي
خلاصي کړي. هم
هره ګناه ظالم دي.
ګل تمیزي. او دَ هغه مازغه
په غلطه بانک بیایي. چه انسان ازادي
غوالړي نو دَ شیطان او دَ ګناه نه
ازادي نه غوالړي [illegible] دا چه خپل
شوق. خپل عادت پوره کیږي.
سړي په حقیقت پوره اېتي. نو چه
مالک مسیح نه دَرسوي
ازادي وله دَرکوي. چه ځان
اصلي

٣٨ چه هر څه مِ دي لیدلي له خپل پلار
هغه وایم خو چه څه تاسو بیا له وار
له خپل پلار ځني هم اوریدلي دِي
تاسو هغه شان کوئ خو یقیني
٣٩ هغوي ورته په جواب کښ وویل
چه ځمونږ پلار ابراهیم دي مکمل
عیسیٰ وِ که ابراهیم وي ستاسو پلار
دَ هغهٔ په شان به تاسو کاوه کار
٤٠ خو اوس تاسو کوئ دَ مرګ کوشش ځما
یعني یو کس چه کوي کلام رښتیا
چه خدائ نه څه هغهٔ دي اوریدلي
ابراهیم خو داسي کار نه کاوه چري
٤١ تاسو کوئ کار ونه دَ خپل پلار په شان
هغوي وِ. مونږه نه یُو حرامیان

صفحا ١٠
معلومیږي چه لفظي
پلار دَ یهود دَ پاره په
مذهبي بحث کښ په
جسماني طور په ځای
شان سره نه استعمالیږي
په دي ځای کښ لفظي
پلار په دري قسمه
یادیږي - اول دَ خدائ
دَ پارهٔ دویم دَ ابراهیم
خلیل الله دَ پارهٔ سره
دَ دي چه ... ٢٠ کاله
اول هم دي. دریم
دَ ابلیس دَ پارهٔ - دا ناممکنه
خبره ده چه دا دري واړه په
جسماني طور استعمالیږي. پلار توب
دَ ځوئي دالي اصل دي. نو اصل
ته پلار ویلي شي. یهودیان په
دنیاوي طور دَ ابراهیم خلیل الله
نسل وُه او هغه دَ هغوي اصل وُه
مګر چه هغوي کوشش کاوه. چه
ابراهیم خلیل الله ځان مذهبي
اصل ثابت نه دي. نو
مالک مسیح دا منلي نه
شو ولي چه هغوي داسي
کارونه کول چه دَ کار اصل
ابلیس ښي وه نو مالک مسیح وایي
چه ستاسو اصل په شیطان ښي
دي هغه ستاسو پلار دي. لکه چه
عیسائیان یهودیان کښي هم
دَ مالک مسیح اصل دَ پارهٔ استعمالیږي او چه
اصل خبره ده لکه چه
دادَ اصل وایي چه له خدائ
هغه پخپله راغلي او ... نه دا ولي

[illegible]

موږ یو پلار لرو یعني پاک خدایٔ
42 عیسیٰ ورو ده غلطه ستاسو رائ
که خدایٔ وي ستاسو پلار نو ماسره
به لرلي مینه وهٔ تاسو ښکاره
ولي چه له خدایٔ زهٔ راوتلي یم
او راغلي یم - نهٔ له ځانَ راغلي یم
بلکي دا چه زهٔ هغهٔ یم رااستولي
43 په کلام م تاسو نهٔ پوهیږئ ولي؟
سبب دا دي چه ښما هغه کلام
اوریدلي نهٔ شئ تاسو په خپل فام
44 تاسو دَ خپل پلار ابلیس یئ غواړئ هم
چه شوقونه دَ خپل پلار وکړئ هر دم
هغه وهٔ اول خوني - او په خصلت
پاتي نه شه - په کښې نه وهٔ حقیقت

چه دروغ وایي له ځانَ وایي. وجهه دا
دروغژن دي - بلکي دَ دروغ آبا
45 لیکن زهٔ تاسو ته وایمه رښتیا
ځکه نهٔ کويُ یقین تاسو په ما
46 دي په تاسو کښ څوک هم چه نور په ما
څهٔ گناه ثابتوِي ؟- که وایم رښتیا
ولي نهٔ کويُ په ما باندِ یقین
47 که څوک وِي دَ خدایُ نوهغه ہرحین
دَخدايُ کلام اورِي - خو تاسو ځکه
نهٔ اوريُ چه نهٔ یيي له خدايُ بي شکه
48 یهودیانو وِ ښه نهٔ وایُو څه : دا
چه سامري یيي ته اُوبد روح مل دي ستا
49 عیسیٰ وِبد روح په ځان کښ نهٔ وینم
ولیکن زهٔ دَ خپل پلار عزت کوم
تاسو کويُ بي عزتي ځما هر وم
50 مګر زهٔ خو خپله لويئ نهٔ غوارم

خو یو شته دي چه یې غواړي فیصله کړي
51 رښتیا تاسو ته وایم سرسری
که کلام مِ او رِي ثوک عمل پرِ کړي
تو هیش پوري به مرګ او نهُ وینِي
52 یهودیانو ور ته وُوِ اوس پوه شوُ
چه په تا کښ خو بی شکه شته بد روح
اَبراهیم او انبیاً وارهٔ مړهٔ دِي
تهُ وایې که مِ په کلام ثوک عمل کړي
هَغه به دَ مرګ مزه نور تر بقا
هیڅري په هیڅ شان و نهَ څکِي بیا
53 تهُ لوي یې څه؟ له اَبراهیم څمونږ آبا
چه مړ دي ـ او مړهٔ هم دي ټول انبیا
مونږ ته و وایه ـ ته ُ څه ګڼې څپل ځان
54 عیسیٰ ور کړلو جواب هغه زمان
که لویې څپله کړم نو هیڅ نهُ ده دا
پلاړ مِ هغه دي چه کړي لوئِي څما

يعني هَغه چه تاسو ځمونږ خدائې
ورته وايئ. خو تاسوئې نهٔ پيژنئ
55 زهٔ ئې پيژنم. كه ووايم يو آن
چه ئې نهٔ پيژنم نو ستاسو په شان
دروغژن به وم خو اوس ئې پيژنمه
دَ هغهٔ په كلام زهٔ عمل كومه
56 ستاسو پلار ابرآهيم هم ښادي كوله
چه ځما ورځ ووينې او وئې ليدله
57 شه خوشحاله - بيا يهوديانو هغه ته و
وِ چه نهٔ يې دَ پنځوسو كالو هم
ابرآهيم دِ دَي ليدلي ځنګه بيا
58 عيسیٰ وِ وايمه تاسو ته رښتيا
له دي نه مخوا چه ابرآهيم پيدا شه
زهٔ يم

١٠٠

56 هغوي ځکه کانړي پورته کړل تیار
چه په عیسیٰ باندِ زر وکړِي ګذار
خو عیسیٰ له هغوي نه پټ شهٔ دغه حین
وَوتهٔ له بیت الله نه په یقین

نهم باب

1 او عیسیٰ چه تیریدهٔ نو یو سړي
2 يې ولیدلو چه وهٔ نور روند پیدا شوي
مریدانو ترِ نه پوښتنه وکړه
ایَ استاذ دهٔ پخپله ګناه کړي ده
یا ئې مور پلار چه دي روند شولو پیدا
3 عیسیٰ وُوِ په جواب کښ ورته دا
نهٔ ګناه وکړله دهٔ۔ نهٔ ئې مور پلار
مګر چه دَ خدائې کارونه شي اظهار
4 موږ له ښائیي چه ترڅو پوري ورځ وي
دَ هغهٔ کارونه وکړو سمدستي

چه يُ راواستولم۔ بيا چه شپه راځي
نو په کښ به هيڅوک کار کولي نهٔ شي
چه ترڅو پورې زهٔ يم په دې دُنيا 5
تر هغې زهٔ يمه دَ دُنيا رڼړا
عيسیٰ بيا ورته دا وويل په يو ځل 6
پس له دې نه يُ په زمکه وتوکل
او په لاړو باندِ يُ خټه جوړه کړله
بيا په سترګو يُ دَ ړوند ولګوله
ورته يُ وُوِ دَ شيلوخ تالاوُته ځه ته 7
دَ هغې په اوبو سترګي ووينځه تهٔ
ړوند لاړشهٔ او وُيُ وينځلي خپلې سترګي
چه يُ نظر وشهٔ په بيرته راغي ښکلي
ګاونډيانو او هغوئ چه وليدهٔ 8
چه وړمبي به هغه هر وقت خيرغوښتهٔ
ځکه دوي وُوِ دا هغه نهٔ دې څهٔ؟
چه به ناست وهٔ او خيرات به يُ غوښتهٔ

دَ شيلوخ ترجمه دا دهٔ:- ليږلے شوے

٩ څنو وِ چه هغه دي. نور وِ نه دي
١٠ خو دَ هغه په شان بل څوک آواره دي
خو هغهٔ پخپله وِ زهٔ هغه یمه
هغوي وِ څنګه بینا شوي له یو وسه
هغه کس چه خلق ورته وایې عیسیٰ
١١ هغه خټه جوړه کړله او څما
په دي سترګو یې ولګوله وِ چه ځه
دَ شیلوخ تالاو ته. هلته یې وو ینځه
په فرمان یې زهٔ شیلوخ وته لاړم
په وینځلو مِ نظر وشه. وبینم
12 هغوي نور هم له هغهٔ نه وکړ سوال
هغه کوم ځای دي. وِ خبر نه یم په حال
13 هغوي هغه سړي چه ړوندي ړوند ؤ نه
فریسیانو ته ئه هغه دم بوتلو نه
او هغه دَ سبت ورځ وه چه عیسیٰ
خټه جوړه کړه او سترګي یې کړي بینا

فریسیانو څکه هم تپوس وکړهٔ 15
دایهٔ ـ څنګه ستا نظر ولګیدهٔ
دَ ده ته ئې وُوِ هغه خټه جوړه کړله
او په سترګو ئې شما ولګوله
چه زهٔ ووینځلي لګي زهٔ نظر
څنو وُوِ فریسیانو نه مګر 16
چه هغه سړي دَ رب له لوري نهٔ دي
ولي چه دَ سبت دَ ورځي پابند نهٔ دي
مګر نورو وِ که دي وي ګناهګار
څنګه به ئې دا نښي کړي وي اظهار؟
په دوئ کښې بي اتفاقي شوله جابُل
هغوئ څکه هغه ړوند ته وویُل 17
دَ هغه سړي په باب کښې ته څه وایي
ولي چه ستا هغه پرانستلي سترګي
هغه وُوِ چه نبي دي په اعتبار
خو ترڅو چه ئې دَ هغه ړوند مور وپلار 18

١٥ په ٩ باب کښې ایت دَ سبت دَ ورځي بیان شوي دي یهودیانو په دي حکم دومره سخت شوي وو چه که دَ سبت په ورځ ئې نیکي کول ئې هم ګناه ګڼله.

خلاصه دَ هغوی په هغه کښې یو دا بي کس لیږلي وه چه په قدرت سره به ئې زور او بیکاره نه کول. هغوی دَ خیال چه له شوي خیال په قانونو هغوی لیږلي شوي

١٠٤ کس رد کړه او آدم دا ګناه ئې کړي. چه طور سره نبي ار دې تعلیم جوړ کړي. او قیاس یا علم په موافق نه دي او خلق خدائ دا خلاص کار ډیر کړي او هغه قابیل ساتلي خدائي چه دي نه منلي خلق

۱۰۵

را غوښتلي نهٔ وُو یهود تر هغه حین
دَ هغهٔ په حق کښې نهٔ کاوه یقین
چه دي ړوند وه خواوس شوي وه بینا
۱۹ تر نه ئې دا رنګ تپوس وکړ لوبیا
ستاسو ځوئ دي ځه چه تاسو وایئ دا
ړوند پیدا شه- څنګه ئې وشه نظر بیا
۲۰ مور و پلار ئې وِ مونږ ښه پیژنُودا
چه ځمونږ ځوئ دي او ړوند هم شهٔ پیدا
۲۱ په دې نه پوهیږُ واوس څنګه بینا شه
او نهٔ مونږ نه ده معلومه چه له چا شه
هغه دي بالغ- تپوس وکړئ هغهٔ نه
دَ خپل ځان په حق به ووایئ پخپله
۲۲ مور و پلار ئې له یهود نه ویریدل
ځکه ئې دا خبري وکړلي را ځغل
یهود دا اتفاق کړي وه دا وار
چه هر څوک چه دَ مسیح وکړي اقرار

هغه کس به خارج شِي له جماعت
23 په دي د جهې یې مورو پلار وِهِ ساعت
دي بالغ نو تپوس وکړئ له هغهٔ
24 هغوي رُوند په دویم ځل راوغوښتهٔ
ورته ئې وِ ته صفت وکړه دَ ستار
معلوم دي چه دا سړي دي گناهگار
25 هغه رُوند دا جواب ورکړ په تلوار
خبر نهٔ یم که هغه وِي گناهگار
مگر زهٔ خالي په دي ښه پوهیږم
چه رُوند وم. اوس مِ نظرلگي. وینم
26 هغوي څکه وُوِئه ئي وکړل چه ستا
سترگي پرانستي شوي ته شوی بینا
27 هغه وِ تاسو ته اوس ویلي دِي ما
تاسو وانه وریدل. څه غواړئ اوس بیا
چه له مانه واوري. زړهٔ موگیږي څه؟
چه تاسو دَ هغهٔ مریدان شئ. که؟

28 هغوي وِ ورته په بد ردَ وئینا
تهُ دَ هغهُ مرید یې . موږ دَ موسیٰ
29 موږه بنه پوهیږو چه پاک پروردګار
له موسیٰ سره وکړ کلام له وار
ولیکن نهٔ پوهیږو موږه په دې
اے کوم ځای نه دې راغلی دا سړې
30 دغه سړي وله جواب ورکړلو بیا
عجیبه راته اوس ښکاریږي کلام دا
تاسو نه پوهیږئ له کوم ځایٔ دې راغلی
هم چه ښما سترګي هغه دي پرانستلي
31 موږ ته دا معلومه ده چه پاک خدایٔ
نهٔ اوري دَ ګناه ګار کس په هیڅ ځایٔ
مګر که چرې څوک پاک خدایٔ یاد وِي
او دَ هغه رضا کړي . خدایٔ یې اورِي
32 دَ دنیا له شروع ههچرې له چا
اوریدلي نهٔ دِي چرې موږه دا

چادَ روند پيدا شوي سترګي پرانستلي
33 که دا کس دَرب له لوري نهٔ وي راغلي
نو هغه به هيڅ کولي نهٔ شو بيا
34 هغوي وُوِ په جواب کښ خوا مخوا
په ګناه کښ پيدا شوي يي بالکل تهٔ
مونږ ته ښايي تعليم څه؟ بهرئي وشاړهٔ
35 عيسیٰ وا وريدل چه هغه ئي وشړلو
نو چه هغه ئي بيا موند ورته ئي وويلو
تهٔ راوړي څه؟ دَ خدائي په ځوئي ايمان
36 نو هغهٔ جواب کښ وُوِ هغه آن
هَغه څوک دي چه ايمان پرِ زهٔ راوړم
37 عيسیٰ وِ هَغه ليدلي دي تا هم
هَغه څوک چه تا سره خبري کړي
38 هم هغه دي - سرِي وُوِ سمدستي

ای مالکه زهٔ دِ ستی ایمان راوړم
او سجده ئې وړ ته وکړه هغه دم
39 عیسیٰ ووېل دَ عدالت دَ پاره
دي دنیا ته یم راغلي چه له واره
خاص هغوي چه نهٔ وینې دوي ووینِینه
او هغوي چه وینِې هغه ړانده شینه
40 فریسیانو نه چه څوک وُو ورسره
چه ئې داخبري واورېدې بنکاره
هغوئ وُوِ موږ هم ړانده یو څه؟
41 عیسیٰ ووېل که تاسو وي ړانده
نوګناه به ستاسو نه وه خو چه وایئ
موږ وینُو نو قائمه ګناه بیایئ

لسم باب

1 ربښتیا تاسو ته وایم چه څوک راځي
او هغه دَګډو شپول ته ننوزي

څو نهٔ په ور بلکې اوړي په بل لار
نو هغه بې شکه غل دي هم لوټمار
2 چه هر څوک په دروازې شي ور دروون
په رښتیا هغه کس دي دَ ګډو شپون
3 څوکیدار ورته پرانزي. ګډي هم
دَ هغهٔ اواز اوري په هغه دم
خپلو ګډو ته په نوم نوم اواز کړي
او بهر یې هم بیایئلو له بیا یېږي
4 او چه خپلې ټولې ګډې و باسي
نو مخکښې دَ هغوي په مخکښ ځي
ولې چه ګډې دَهغهٔ پیروي کړي
سبب دا دي چه اوازې یې پیژني
5 مګر په پردي سړي پسې به چرِې
لاړې نه شي بلکې تښتي به تر لرې
ولې چه دَ غیر اواز نهٔ پیژني
